# زما جانان زما دلدار





# نبی صلی اللہ علیہ وسلم

شاعر محمد صدیقؔ توبہ کار

حصہ اول

ناشر

مکتبہ تزکیہ

نزد، خانقاہ پیر سباق شریف، نوبنار

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

حنفی شافعی

کفایت دینی کتب خانہ

کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

easypaisa

+923052488551
+923247442395

حنبلی مالکی

ټول حقونه دَ شاعر په حق کښې خوندي دي

ضابطه

دَ کتاب نوم     زما جانان زما دلدار نبی ﷺ
شاعر     محمد صدیق توبه ګار
نیلاب پښتو ادبي جرګه، شېرین کوټ نوښار
کمپوزنګ     سلیمان کامل
پروف ریډنګ ذاکر شاه ذاکر
چاپ     اول
رابطه     03005971027
ناشر: مکتبه تزکیه
03328995664

ترون

دَ

نعت خوانانو

په نوم

والی

د خپلې مور بي بي او ګران پلار په نوم چې زما په زړه کښې ې د خپل خوږ نبي صلی الله علیه وسلم مینه اچولې ده. دا کتاب ورته د ېه احترام والی کوم. که څه دي مینې په بدل زما په برخه کوم ثواب د خدای پاک له دربار نه حضور ځنځه رسېدلی وي، زه ئې خپلو خدای بخښلو والدینو ته بخښم او د درجاتو د وچتېدو د پاره ئې لاس په دعا یم.

محمد صدیق توبه ګار

بسم الله الرحمن الرحیم

## تقریظ

نحمده ونصلّ ونسلّم علی حبیبه الکریم و
علٰی اٰله واصحابه واتباعه اجمعین. وبعد.

الله رب العزت په قران عظیم الشان کښې دَ حبیب صلّی الله علیه وسلم په داسې شان تذکره فرمائیلې ده چې دَ همېشه دَ پاره شاعران، ادیبان او خطیبان دَ هغې نه راهنمایي حاصلوي. دَ قران پاک دَ نزول نه مخکښې اسماني کتابونو کښې زمونږ دَ مبارک پیغمبر صلّی الله علیه واله وسلم تذکره وه. بهودبانو به دَ هغې بیان نهٔ کولو او دَ پټولو کوشش به ئي کولو خو دا حقیقت دے چې الله تعالی دَ حضور صلّی الله علیه وسلم ذکر پورته کړے دے. دَ دنیا یو طاقت ئي بنکته کولے نهٔ شي. رب العالمین فرمایي "وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ" او مونږه پورته کړو تا دَ پاره ذکر ستا. او ورته فرمایي "ذِکْرُكَ ذِکْرِي" ستا ذکر زما ذکر دے او فرمایي اذا ذُکِرْتُ ذُکِرْتَ. معنی کله چې زما ذکر کیږي ستا ذکر به راسره کیږي. کلمه، اذان، اقامت، مونځ، خطبه چرته چې دَ الله تعالی ذکر کیږي ورسره دَ حبیب صلّی الله علیه واله وسلم ذکر کیږي.

دَ دربار رسالت مشهور نعت خوان حضرت حسّان بن ثابت رضی الله عنه فرمایي

وَ ضَمَّ الاِلٰهُ اسْمَ النَّبِیِّ بِاسْمِهٖ
اِذَا قَالَ فِی الْخَمْسِ الْمُؤَذِّنُ اَشْهَدُ
وَ شَقَّ لَهٗ مِنِ اسْمِهٖ لِیُجِلَّهٗ
فَذُوالْعَرْشِ مَحْمُوْدٌ وَ هٰذَا مُحَمَّدٌ

الله تعالی دَ خپل نوم سره دَ نبی کریم صلی الله علیه وسلم نوم لګولے دے. کله چې مؤذن پنځه وخته مونځ دَ پاره اذان کښې اشهد اَن لااله الا الله وايي ورسره اشهدانّ محمداً رسول الله وايي. الله تعالی دَ خپل نوم نه دَ خپل حبيب صلی الله علیه وسلم نوم دَ پاره دَ تعظيم رابستے دے نو عرش والامحمود دے او دا محمد صلی الله علیه وسلم دے.

حضرت عباس رضي الله تعالیٰ عنه حضور صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ: " يارسول الله اِنِّیْ اُرِیْدُ اَنْ اَمْتَدِحَكَ ا فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی الله علیه وسلم: هَاتِ لَا يَفْضُضِ اللهُ فَاكَ . يعني يا رسول الله ، زهٔ ستاسو مدحه او نعت وئيل غواړم. حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائيل راوړه، الله تعالی دې ستا غاښونه سلامت وساتي.
حضرت عباس رضی الله عنه داسې ووئيل

وَ اَنْتَ لَمَّا وُلِدْتَ اَشْرَقَتِ
الْاَرْضُ وَ ضَاءَتْ بِنُوْرِكَ الْاُفُقُ
فَنَحْنُ فِی الضِّيَاءِ وَ فِی
النُّوْرِ وَ سُبُلِ الرَّشَادِ نَخْتَرِقُ

وردت نار الخليل مكتتما
فی صلبه انت کیف یحترق

کله چي تاسو دنیا ته تشریف راوړۀ ، زمکه ټوله روښانه شوه.
ټول اسمانونه هم روښانه شو ـ نو موږ په دې نور او په دې رڼا کښې دَ نیك بختۍ په لار روان یو ـ ستاسو نور دَ حضرت ابراهیم خلیل الله په صُلب کښې هغهٔ سره اور ته کوز شوے وۀ ، چې تاسو دَ هغوی په صُلب کښې پټ وئ نو هغه اور کله سیزلے شۀ.

دَ دیني کتابونو دَ مطالعې نه دا واضحه ده چې صحابه کرامو نعتونه ویلي دي، حضور پاك صلی الله علیه وسلم اوریدلي دي او دعاګانې ئې ورته فرمائیلي دي.

دَ اسلام دَ بنسټیزه تعلیماتو ترویج و اشاعت دَ پاره شاعري بهترینه ذریعه ده.

دَ دنیا په مختلفو ژبو کښې شاعرانو دَ دغه مبارکو مقاصدو دَ پاره شاعري استعمال کړے ده.

په اسلامي، اصلاحي او نعتیه شاعرانو کښې زموږ ورور محترم محمدصدیق توبه ګار صاحب هم شامل دے. زما جانان زما دلدار نبيﷺ دَ دوی دَ نعتیه کلام مجموعه ده.

ابتدا کښې دَ توحید عقیده داسې ذکر کوي

چې دَ کل جهان بادشاه دے یو الله دے
زورور چې له هر چا دے یو الله دے

د جانان بنائسته وطن ته داسې سلام وراندې کوي

مدينې منورې ته مې سلام دے
د حضور بنکلې روضې ته مې سلام دے

د خپلو فکرونو او خيالونو اظهار دې الفاظو کښې کوي

کله مدينه کله مکه رايادوي
ما ته مې خيالونه شته چنګله رابادوي

دَ توبه ګار صاحب په تخلص کښې هم دَ توبې او رجوع الى الله ته ترغيب دے. لکه چې وايي

راشه وباسه توبه الله رضا کړه توبه ګاره
چې الله پرې خوشحالېږي شه روان په هغه لاره

الله تعالى دې توبه ګار صاحب ته توفيق ورکړي چې خپله اسلامي، اصلاحي شاعري جاري وساتي او دَ مدينې منورې دَ جانان عاشقانو ته نور هم دَ مينې ډک کلام وراندې کړي . آمين يا رب العالمين. بحرمت سيد المرسلين صلى الله عليه واله وسلم

حافظ بشير احمد مدني

خانقاه پير سباق شريف

يکم جمادي الاول ١٤٣٤هجري

بسم الله الرحمن الرحيم

## تقريظ

زير نظر كتاب دَ محترم ورور حاجي محمد صديق توبه گار صاحب دَ نظمونو مجموعه ده چي محترم ورور صادق حيات صاحب جمع كړي ده.

دَ نبي كريم صلى الله عليه وسلم اوصاف او كمالات بيانول لوے عبادت دے او دَ الله تعالى دَ قرب او نزديكت ذريعه ده. رب العالمين په قران كريم كښې په مختلفو ايتونو كښې نبي كريم صلى الله عليه وسلم په ښكلو صفتونو ذكر كړے دے او صحابه كرامو دَ هغوي اوصاف او كمالات امت ته رسولي دي.

په هره زمانه كښې شاعرانو په خپلو نظمونو كښې ستائيلے دے او خصوصاً دَ حضرت حسان بن ثابت رض ستائينه يو لوے افتخار دے چي دَ نبي كريم صلى الله عليه وسلم په حكم به دَ هغوي ورتندي نعتونه وئيل او نبي كريم صلى الله عليه وسلم به پرې دَ خوشحالي اظهار كولو.

دغـسې ډېر صحابه کرامو ذ هغوي په وړاندې ذ هغوي اوصاف جليله په نثر او نظم کښې بيان کړي دي۔

زير نظر کتاب کښې محترم ورور حاجي توبه ګار صاحب ذ الله تعالى ذ ښکلي حمدونو نه علاوه ذ نبی کريم صلى الله عليه وسلم اوصاف مبارکه، ذ مديني منورې او مکې مکرمې او نورو مقاماتو صفتونه په ډېر اعلی طرز په نظمونو کښې ذکر کړي دي چې په انسان کښې ذ حضور پاک صلى الله عليه وسلم ذ مينې او عقيدت جذبه پيدا کوي.

الله تعالى دې محترم ورور ذ پاره دا کتاب ذ دواړو جهانو ذ سعادت ذريعه وګرځوي او لوستونکيو او اوريدونکيو له نبي ذ عشق او محبت ذريعه ثابته کړي.

آمين

شيخ القرآن والحديث حضرت مولانا

محمد ادريس عفى عنه

بسم الله الرحمن الرحيم

زما جانان زما دلدار نبي ﷺ د محمد صديق توبه گار د کلام وروميني مجموعه ده. په دې مجموعه کښې د محبوب کبريا سرور کائنات امام المرسلين صلی الله عليه وسلم نعتونه دي.

چونکې **گوره** گار په څېله د حضورصلی الله عليه السلام صفت او ستائينه نې کړې ده . دې د پاره به زه نعت رسول صلی الله عليه وسلم نه ستا کبريا ووايم.

په دې صنف قلم وچلول ډېره لويه حوصله غواړي څکه چې په دې لار او د پُل صراط په لار تبربدل يو شان نه دي . په دې لار هغه کس قدم اخستې شي چې د څېل پيغمبرصلی الله عليه وسلم سره رښتيني مينه لري.

د نعت ابتداء، د نبي حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د زمانې نه شوې ده لکه حضرت حسان بن ثابتؓ، کعب بن زهيرؓ، او عبدالله بن رواحه رضي الله عنهم د هغه وخت بنه منلي شوي شاعران وو.

دا منلې شوې خبره ده چې د نعت گويي صنف د عربستان نه ايران ته راغې او په ايران کښې د نعت گويي يوه داسې ذخيره جمع شوه چې مثال نې نشته.

د نعت گويي په دې کاروان کښې صحابه کرام، صوفيا، فقراء، علماء، فقهاء، او بادشاهان هم شريك دي . لکه حکيم ثنائيؒ، پير دستگير شيخ عبدالقادر جيلانيؒ، حضرت نظام الدين گنجويؒ، حضرت بختيار کاکيؒ ، حضرت خواجه معين الدين چشتيؒ،

حضرت شمس تبریز رح، جلال الدین رومي رح، سعدي شیرازي رح، حضرت بوعلي قلندر پاني پتي رح، حضرت نظام الدین اولیاء رح او حضرت امیر خسرو رح وغیره شامل دي.

څنګه چي د عربي، فارسي او اردو شاعرانو نعت ګوئي کښې برخه اخستې ده دغه شان د پښتنوخوا شاعران د چا نه وروستو نه دي پاتې شوي.

د توبه ګار صاحب د نعتونو کتاب ما ولوستهٔ، نعتونه ئې ډېر خوندور او مزیدار دي.

توبه ګار صاحب یو فطرتي قادرالکلام شاعر دے ۔ تعلیم ئې تر اته جماعته پورې کړے دے ۔ لیکل او لوستل کولے شي ۔ دے د نیلاب پښتو ادبي جرګې مستقل غړے دے او بنه په اخلاص سره د دې تولنې خدمت کوي.

اوس به زهٔ د مصنف په نعتیه کلام لږه رڼا واچوم. دا یو حقیقت دے چي هر شاعر د خپل معشوق ستائینه د خپلې مینې او استعداد مطابق کوي او د ځا محبوب چي د دوو کونو سردار حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وي ۔ د هغهٔ د عقیدت او د بې کچه مینې څوک احاطه کولے شي؟

راځئ چي وګورو چي توبه ګار صاحب په خپل محبوب څومره مئین دے او د خپلې مینې اظهار څنګه کوي.

دے بناسته مې د نبی اخر زما مخ
داسې نښته په دنیا د بل انسان مخ

نوراني جلوي نې هر خوا ته خوري دي
برق رنا به نې کوله تر اسمان مخ

بې شکه توبه گار صاحب چې چا ته محبوب وئيلے دے او چا سره چې حقيقي مينه کوي پۀ هغۀ دَ حُسن څوک اندازه کولے شي۔ دَ دنيا پۀ مخ داسې حسين او ښکلے مخ بل نشته۔
مصنف چې څنګه خپل محبوب حضرت محمد صلی الله عليه وسلم سره مينه کوي په عشق کښې ئې دَ سر او مال نه تير دے دغه شان هغه لارې کوڅې هغه ځايونه هغه ښارونه ئې هم ډېر خوښ دي چرته چې ئې محبوب آقائے نامدار حضرت محمد صلی الله عليه وسلم قدمونه ايښي دي۔ لکه يو نعت کښې داسې ګويا دے:

والله ډېره مې يادېږي مدينه
په زړګي مې راورېږي مدينه
خوږ جانان زما دَ ميني په کښې اوسي
سم جنت راته ښکارېږي مدينه

ما دَ محمد صديق توبه گار دَ نعتونو مسوده ډېره په غور سره ولوسته۔ دَ پاره دَ دې چې په ښۀ شان دَ دې دَ قدر او قيمت اندازه ولګوم۔ دَ کتاب دَ کتو نه پس زۀ دا خبره ډېره په زور او يقين سره وايم چې دا يو ډېر اعلی او عجيبه کتاب دے۔ شاعري ئې په فني کالو ښائسته ده۔ لفظونه ئې ډېر ساده استعمال کړي دي۔ اندازه ئې ډېره زړۀ

رابنکونکي دہ. رنګ ئې خپل او خانګړے دے. هیله لرم چې به [illegible]
ادب کښې به لوړ مقام پیدا کړي.
امید لرم چې قام به دَ دې کتاب قدر وکړي او دَ هر نارینه او [illegible]
لاسه به دا کتاب ورسي چې دَ دې کتاب په ذریعه دَ هغوي به [illegible]
کښې دَ خپل پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سره مینه [illegible]
هم زیاته شي.
په اخر کښې زۀ ټولو لوستونکیو ته خواست کوم چې هغوي دَ ټول [illegible]
مسلمه او خصوصاً دَ خپل ملك دَ پاره دعا وغواړي چې دَلته [illegible]
راشي او دَ ترقۍ په لاړ پرمختګ وکړي. آمین

انور یوسفزے
سابقه صدر
نیلاب پښتو ادبي جرګه. شیرین کوټي (رشکي)، نوښار
30-10-2015

# حمد پاک

چې د کل جهان بادشاه دے هو الله دے
زورور چې له هر چا دے هو الله دے

بې له خدايه بل څوک داسې معبود نشته
چې لائق د هر ثنا دے هو الله دے

هر يو کار ئې د حکمت نه خالي نۀ دے
بې وزيره شهنشاه دے هو الله دے

په عزت او ذلت دواړو ئې اختيار دے
د هر چا حاجت روا دے هو الله دے

تل ترې غواړه چې لائق دے د غوښتنې
په رښتيا مشکل کشا دے هو الله دے

توبه وباسه په سچه توبه ګاره
مهربان چې په هر چا دے هو الله دے

***

## نعت شريف

دَ مديني منوري ښکلے جانان زما
په الله ګران زما په الله ګران
زما اٰقا زما حبيب دَ زړهٔ درمان زما
په الله ګران زما په الله ګران زما

چې نۍ دَ مخه پاك الله زمکه اسمان کړهٔ پيدا
بيا نۍ په زمکه کښې ښائسته ښکلے انسان کړهٔ پيدا
هغه دَ دوو کونو سردار دوست دَ سبحان زما

چې په تورات زبور انجيل نۍ صفتونه کيدل
چې ملائيکو ته دَ چا به تعريفونه کيدل
دَ عبدالله کور کښې پيدا شهٔ مهربان زما

ربه موږ بوځې مديني ته چې ديدار نۍ وکړو
چې سلامي دَ شين ګنبد ښه په بار بار نۍ وکړو
دے دَ مودو نه په زړګي دغه ارمان زما

اے توبه ګاره څهٔ ښائسته ښکلي نعتونه ليکې
چې دَ محبوب عربي مې صفتونه ليکې
په دې خبرو شي تازه ګوره ايمان زما

***

## نعت شریف

سترګي لګوه دَ قدم دَ اېښودو نه ده
ښکلي مدینه ده ستا دَ ښو دَ ګرځېدو نه ده
سترګي لګوه دیره خوږه لګي په سترګو
والله دَ زړهٔ نه دَ وتو نه ده

خورم پري قسم چي په هېڅ لاز دَ هېرېدو نه ده

وکړه سلام په احترام
په چپه خلهٔ دَ تېرېدو نهٔ ده
واخله تري فائده داسي موقع دَ پرېښودو نه ده

کړے سفر مي تري جانان دے
دنیا مدام دَ اوسېدو نهٔ ده
نهٔ کوي وفا دا بي وفا دَ خپلېدو نهٔ ده

راته خوارهٔ نعتونه وايه
بله نغمه دَ اورېدو نهٔ ده
داسي ترانه بله په زړهٔ دَ لګېدو نه ده
چي دَ نوښاره کله ورشي
اے توبه ګاره په کتو نهٔ ده
هرطرف ني ښکل کړه یوه
خوادَرپښودونهٔده

**

## رباعي

دېر ښانسته مي دَ نبي اخرزمان مخ
داسې ښشه په دنيا دَ بل انسان مخ
نوراني جلوې ئې هر خواته خورې وې
پرق رڼا به ئې کوله تر اسمان مخ
دا دَ نمر سپوږمی رڼا به دې شي هېره
کۀ زما دَ يار دې وليد په چشمان مخ
دَ تمام جهان کعبه خو بيت الله دے
دَ کعبې کعبه مي ښکلے دَ جانان مخ
کائنات ټول دَ حضور په مخ پيدا دي
رب ستائيلے ئې بار بار دے په قران مخ
ای صديقه جبرائيل چې ئې خادم وي
توبه ګاره دا به څنګ وي قدردان مخ

***

# نعت شریف

زهٔ لوګې لوګې دي له رخسار شمه
کله به روان په دغه لار شمه
بو خل په طرف دَ مدینې به خم
خوا ته دَ محبوب دَ شنې روضې به خم
هلته کښې مېلمه چې دَ دلدار شمه

ستا دَ حرم لوړو منارو ته مې
هغه دَ نور ښکلې نظارو ته مې
ډېر چې ګورم هله به قرار شمه

کاش چې مدینه کښې اوسېدل مې وي
لاړو او کوڅو کښې ګرځېدل مې وي
کاش چې زهٔ خادم دي دَ پېزار شمه

ستا شنکې ګنبد نه چې کتلے مې
ستا خوارهٔ نعتونه چې وئیلے مې
ډېر شکر ګزار به توبه ګار شمه

***

## نعت شریف

مدینه ګلِ ګلزار پرې ورېږي رحمتونه
دے وطن مې دَ جانان رب ورکړي
عزتونه

خدایه مونږ بوځې مدینې ته
چې دَ حبیب دَ روضې وکړو سلامونه

زما جانان پکښې اوسېږي
خکه مې زړهٔ کښې دَ دیدن دي ارمانونه

زهٔ دَ والیل زلفو ئې خار شم
دا والضحیٰ رخسار ئې لا مزه کوینه

چې دروازې سره ولاړ وے
چې دَ محبوب دَ شنو جنګلو کرم دیدنونه

دَ توبه ګار دغه ارمان دے
چې په حرم شریف کښې وکړمه مونځونه

***

شهادت امام حسین رضی الله عنه

حسین صاحب جامې په سرو وینو کښې رنګ کړې
میدان ته وځي د تورو جنګ کښې

د تورو جنګ کښې دے روان
هیڅ پروا نه لري په ځان
یزید ظالم وریسې راغے په غور ځنګ کښې

ځان ئې شهید په شریعت کړهٔ
په ښکلي دین دَ پاک حضرت کړهٔ
ځار شم ترې ویره دَ مرګ هیڅ نه وه پتنګ کښې

څوک چې منین په الاالله وي
په محمد رسول الله وي
څنګه به خوب بې غمه وکړي په پالنګ کښې

نعتونه وایي عمر حیات
ګلزار احمد ـ صادق حیات
دَ توبه ګار اوستاذ سره ناست وي په څنګ کښې
میدان ته وځي دَ تورو جنګ کښې

***

## نعت شریف

مدینه شوله منوره چې جانان راغے
د مکې خلقو نه خفه اخر زمان راغے

کفارو وکړله صلاح چې قتلوو به سردار
بدبختو ونیوله توره شپه کښې هر خواته لار
صحیح سالم تېر نه په فضل د سبحان راغے

په توره شپه ورسره یار صدیق اکبر شۀ روان
نبار د مکې نه چې په حکم د اکبر شۀ روان
د غار ثور خواته په خیر او په امان راغے

په غار کښې وکړۀ حفاظت غني مولا د دوارو
کونتره کېناسته جولا کرځېد په غارو غارو
پېدا نې نۀ کړۀ په کافرو یو طوفان راغے

شو استقبال ته نې راجمع مدینه کښې انصار
ډېر ارماني وو لوی وارۀ د هاشمي د دیدار
یو بل له زېرې ورکوي نبی سلطان راغے

لیکي نعتونه توبه ګار چي دَ جانان عربی
ښکلے محبوب دے دَ مولا غني سبحان عربی
خکه تي مخکښي دَ قلم دغه بیان راغلے

***

## نعت شریف

دَ بل چا در کښي څهٔ کرم دَ جانان کوڅه مي شته
چي زړهٔ بري قراربږي دَ ارمان کوڅهٔ مي شته

په مخ چي تي سبا او په اوربل ني توره شپه شي
دَ داسي والضحیٰ جبین روښان کوڅه مي شته

یوه شپه کښي تر اووم اسمانه لاړهٔ بېرته راغلے
الله سره په عرش کښي دَ مهمان کوڅه مي شته

طحه او په یٰسین چي رب ستایلے دے بار بار
والله چي دَ هغهٔ شهرین زبان کوڅه مي شته

خیل خان تي ضمانت کښي دَ هوسي دَ پاره ورکړهٔ
اُمت باندي دَ هغه مهربان کوڅه مي شته

رڼوا کښي به ني سوري دَ وجود چا نهٔ لیدلو
دَ نمر سپوږمی ښائسته دَ قدردان کوڅه مي شته

یو ورځ به ني سر کېږدم په درشل کهٔ رب رضا شي
یو داسي توبه ګاره دَ لوی شان کوڅه مي شته

***

## رباعی

والله دېره مي یادېږي مدینه
په زړګي مي راوړېږي مدینه

خوږ جانان زما دَ مینې ښکښي اوسي
سم جنت راته ښکارېږي مدینه

چي سردار دَ دوارو کونو ورله راغی
غوږ هر ځای کښي یادېږي مدینه

هر ساعت چي ني خوارهٔ شعرونه وایي
ګار ته نهٔ هېرېږي مدینه

**

## نعت شریف

په زوره زوره ذکر دَ الله مزه کوي
ستاینل دَ محمد رسول الله مزه کوي

ستاینل مې دَ جانان مزه کړي هر زمان
صفت مې دَ آقا سبا بیګاه مزه کوي

محبوب په لامکان وو رب سره مهمان
رازونه تې په عرشِ معلی مزه کوي

په زړهٔ مې راوربرې یو دم مې نهٔ هېرېږې
سینه کښې مې دردونه دَ آقا مزه کوي

قربان مې مور او پلار شه یو ځل نه هزار وار شه
سر خار دَ داسې یاره په رښتیا مزه کوي

درود پرې وایه ډېر نول غم به دې شي هېر
تهٔ لیکه توبه ګاره دا وینا مزه کوي

***

## نعت شریف

الله الله منه مهٔ دَ بل چا منه
پاك شريعت دَ محمد رسول الله منه، الله الله منه

راشه قران واخله     نور دَ ایمان واخله
کلمه ښکلي لااله الا الله منه. الله الله منه

کلمه صلوٰة وکړه     روژه زکوٰة وکړه
پسخم ني حکم دے چي حج دَ بيت الله منه. الله الله منه

صديق عمر غوندي     عثمان حيدر غوندي
ښکلي ياران دَ هاشمي نبی زيبا منه. الله الله منه

خوږے حلالولو ني     رب رضا کولو ني
دا قرباني دَ ابراهيم خليل الله منه. الله الله منه

چي توبه گار ليکي     خوارهٔ اشعار ليکي
کمال ني خپل نهٔ دے دا فضل دَ مولا منه. الله الله منه

***

## نعت شریف

نهٔ به خوک راشي نهٔ راغلي دے
زمونږ نبی تولو کښې ښکلې دے

چې په تولو دٔ مرسلانو کښې تاجدار دے
هغه زمونږ نبی سردار دے

صفت ئې شوے په قران دے
مونږه راوړي پرې ایمان دے
امید ئې کړو دٔ شفاعت
په سخته ورځې دٔ قیامت

دٔ کوثر غاړې ته جانان
کړي به راجمع اُمتیان

روزِ محشر کښې دٔ زخمي زړونو قرار دے
هغه زمونږ نبی سردار دے

پورته دے تلے لا مکان ته
درګاه دٔ رب غنی سبحان ته
وې کړهٔ الله سره رازونه
دٔ خپل امت حق کښې سوالونه

الله وئیل زما رضا ده
محبوبه ستا چې تمنا ده

په لامکان کښې مبلمه شوے مې دلدار دے
هغه زموږ نبی سردار دے

دَ پاک الله دے نازنین
یاد په طحٰه او په یٰسین
چې کل نیانو کښې بالا دے
دا محمد رسول الله دے

دَ امینې دَ سترګو تور دے
دَ هر زخمي زړګي ټکور دے
دَ مور او بلار نه ډېر دَ خپل امت غمخوار دے
هغه زموږ نبی سردار دے

کوي مدام ني صفتونه
لیکي خواږهٔ خواږهٔ نعتونه
پرې مهربانه پاک الله دے
نعت خوان دَ پاک رسول الله دے
دَ الله شوے پرې کرم دے
چې ترې په دوه هر یو غم دے
ځکه تل به خوشحالي دَ تویه ګار دے
هغه زموږ نبی سردار دے
***

## نعت شریف

یقین مې دے یو خل دَ مدینې ښار له به خم
دَ دوو کونو سردار خیرالابرار له به خم

ارمان زړهٔ کښې زما دے
دیدار دَ مصطفیٰ دے
ورخمه به یو ځلې
توکل مې په الله دے

په فضل دَ الله دَ زړهٔ قرار له به خم
دَ دوو کونو سردار خیرالابرار له به خم

وطن مې دَ جانان دے
په ما باندې ډیر ګران دے
بې وسه یمه خدایه
زړهٔ ډیر مې په لرزان دے
ورځې چې عاشقان هغه ګلزار له به خم
دَ دوو کونو سردار خیرالابرار له به خم

کۀ لاړم مدینې ته
دَ ګلو باغیچې ته
درود سلام به وایم
چې ودریږم روضې ته

مشین چې په مونږ ډېر هغه دلدار له به خم
دَ دوو کونو سردار خیرالابرار له به خم

مشین پرې پاک الله دے
ښیانو کښې زیبا دے
خیر شه توبه ګاره
ښاتسه مخ والضحی دے

به ژوند کښې زۀ هغه ښکلی رخسار له به خم
دَ دوو کونو سردار خیرالابرار له به خم
***

## رباعي

زړګے اوري مدني دلبر زما
خکه دے زخمي زخمي جګر زما

انتظار کښې زما شپې ورځې تېرېږي
کله شي به په دې لار سفر زما

زه په زړه کښې بل هېڅ شے خاپولے نه شم
ستا په مينه دے زړګے پرهر زما

زما نور ارمان هېڅ څه په زړګي نشته
ستا ليدل دي خوشحالي اختر زما

توبه ګار ته په صراط به تلل اسان شي
که جانان مدني شي رهبر زما
***

## رباعی

چې په وارو انبیاو کښې سلطان .دے
ما ترې خار کړې خدایه هغه مې جانان دے

داسې بل دلبر دَ چا په جهان نشته
چې راکړے ماله پاک رب المنان دے

زهٔ لوګے نې دَ وطن او دَ حرم شم
ورتلل ډیر زما په زړهٔ باندې ارمان ِدے

خکه ډیره به زړګې مې زاوریږي
مدینه کښې مې نبی اخر زمان دے

زهٔ دیدن دَ پاک حبیب دَ روضې غواړم
بې دیدنه راته اور دا ټول جهان دے

دَ وصال شربت به کله ملاویږي
توبه ګار وایي زما دین او ایمان دے

***

## نعت شریف

دَ خداے په فضل به یو خل مدینې ښار له ځمه
زهٔ به روضې دَ هاشمي نبی سردار له ځمه

دَ چا دَ مخه چې پیدا کړو الله واړه جهان
چې خداے ستائیلے په قران هغه نامدار له ځمه

زلفې دَ چا چې وي والیل رخسار اذاسجٰی وهٔ
شیرین زبان غوره اخلاق هغه دلدار له ځمه

سوړے نې نهٔ وهٔ چا لیدلے په رڼا کښې دَ نمر
ښائسته دَ نمر او له سوړمې هغه تاجدار له ځمه

چې په ورتلو مې دَ جانان شوه په جهان کښې ښکاره
چې وهٔ یثرب شوه مدینه هغه ګلزار له ځمه

چې دَ دنیا دَ هر یو ګټ نه ورله ځي عاشقان
دَ سترګو نور خیرالوریٰ دَ زړهٔ قرار له ځمه

زهٔ توبه ګار نې صفتونو باندې نهٔ مریږم
چې ډیر مئین وهٔ په امت هغه غم خوار له ځمه

***

# رشیتا خبري

په خوږو کښې خواږهٔ ښکلي دَ ایمان دي
ورسره په تلاوت کښې دَ قران دي

چې غافله دَ قران نه لرې ګرځي
دوکه کړے ورووره دا خلق شیطان دي

چې پیښخهٔ وخته مونځونه باجماعت کړي
په رشتیا سره دوستان دَ پاک سبحان دي

چې خفه دَ چا نه مور او پلار په ژوند وي
شي هلاک دِ دا ونیلي مې جانان دي

چا چې حق دَ یتیمانو وي خوړلي
په یقین سره دا صاحب نیران دي

فقیري چې ئې په رڼا سترګو لیدلي
بادشاهي ئې ترې ځار کړي دَ جهان دي

څوك مالدار او څوك غریب ئې پیدا کړے
مونږ پرې نهٔ پوهېږو کاروته دَ رحمان دي

دا دنیا دَ اوسېدو دَ پارهٔ نهٔ ده
وار په وار وګوره هر څوك ترې روان دي

توبه ګاره دَ عارضي ژوندون دَ پاره
منډې ترې جوړې کړې هر انسان دي

***

## حمد باري تعالی

نوموتو کښې يو نوم دے دَ الله صمد
قُل هُوَ اللهُ احد قُل هُوَ الله احد

نهٔ دے له چا پيدا دے
او نهٔ څوك له دهٔ پيدا دي
دا زمکې اسمانونه
اختيار کښې دَ الله دي

راغلي په قران کښې لم يلد و لم يولد
قُل هُوَ اللهُ احد قُل هُوَ الله احد

دا واړه مخلوقات
خپل خپل لري صفات
هر کار دَ خدا ے پوره دے
نهٔ کم شته او نهٔ زيات

دے غوره په تمامو انبیاو کښې احمد
قُل هُوَ اللهُ احد قُل هُوَ الله احد

په زمکه او په اسمان
ملك جن و انسان
پیدا دي عبادت لره
صفت کړه ذ سبحان
حکمونه مې ذ رب دي نیاسته به وي ابد
قُل هُوَ اللهُ احد قُل هُوَ الله احد

وږتلو به توبه ګاره
ذ خپل امت ذ پاره
کول به نې سوالونه
ډېر ډېر له کردګاره
په عرش کښې مېلمه شوے ذ الله وهٔ محمد
قُل هُوَ اللهُ احد قُل هُوَ الله احد

**

# وایه قرآن

وایه قران وایه خوشحالېږي پرې الله
لااله الاالله، لااله الاالله

نازل کړهٔ خدائے قران        په پاك نبي سلطان
الله ته ډېر محبوب دے        سوزېږي پرې شیطان
راځه قران راواخله شروع کړه په بسم الله
لااله الاالله، لااله الاالله

په روځې دٔ محشر        وي تاج به ستا په سر
بچے کهٔ دې حافظ کړهٔ        به دې وکړه باور
دٔ عرش دٔ سیوري لاندې به ولاړ ی دٔ الله
لااله الاالله، لااله الاالله

دٔ زړهٔ پکښې ارام دے        دٔ پاك الله کلام دے
هغه به بادشاهي کړي        چې څوك دٔ دې غلام دے

مښين چې په قران وي تول دوستان دي دَ الله
لااله الاالله. لااله الاالله

فاني دغه دنيا ده          نيمګړي نيمه خوا ده
تنګ ناز پرې پکار نهٔ دے          دا پاتې له هر چا ده
نيمګړې دنيا پرېږده توکل کړه په الله
لااله الاالله. لااله الاالله

شپه ورځې توبه ګاره          دَ خدائے دَ دين دَ پاره
خدمت دَ خلقو وکړه          کښېنه مه په قلاره
دېر دېر وايه درود په محمد رسول الله
لااله الاالله. لااله الاالله

***

## نعت شریف

شبِ معراج کښې الله غوښتے مې جانان دے
هلته کښې مېلمه په لا مکان دے

راغے جبرائیل په احترام
الله په تا وایي سلام

مولا دې غواړي ما راوړي دا فرمان دے
هلته کښې مېلمه په لا مکان دے

روان په حکم دَ جلیل شۀ
خادم په لار ني جبرائیل شۀ

دَ فرشتو ورته سلام په هر اسمان دے
هلته کښې مېلمه په لا مکان دے

جبرائیل وئیل حضور ته
وړاندې مې سوزي کۀ خم پورته

جبرائیل پاتې شۀ محبوب بره روان دے
هلته کښې مېلمه په لا مکان دے

وې کړه سوالونه دَ امت
محبوب دَ پاک ربِ العزت

الله وښيل امت دهر ستاسو په ما ګران دے
هغه کښې مبلمه په لا مکان دے

وشو الله سره رازونه
هم رو برو تې ديدنونه

بيا واپسې په جنتونو را روان دے
هغه کښې مبلمه په لا مکان دے

جې توبه ګار ليکې نعتونه
دَ پاک نبې کړې صفتونه

فضل پرې شوے دَ مولا غنى سبحان دے
هغه کښې مبلمه په لا مکان دے

***

## نعت شریف

دَ جبرائیل غوندي نامدار
په لوبه لاړ مي دَ جانان کرې خدمتونه، مرحبا

راغې جبرائیل رسول الله ته
داسي ګویا شهٔ مصطفیٰ ته
الله سلام لیږلې تا ته
وایي الله چي راله راوړه دیدنونه، مرحبا
په لوبه لاړ مي دَ جانان کري خدمتونه، مرحبا

حکم دَ رب ني کړهٔ منظور
خي اسمانونه ته حضور
شوي خوشبویاني په هر لور
دَ اهلاً سهلاً فرشتي کري اوازونه، مرحبا
په لوبه لاړ مي دَ جانان کري خدمتونه، مرحبا

اُمِ هانی کرهٔ جانان وهٔ
فضل پري شوي دَ سبحان وهٔ
غوښتي الله تر لامکان وهٔ

راوړل جبرائیل دَ رب دَ لوري سلامونه، مرحبا
په لویه لاز مي دَ جانان کړي خدمتونه، مرحبا

داسې بل څوك نهٔ دے راغلے
پورته چې عرش نهٔ دے ختلے
هم نوادر ني تول ليدلے

څومره ښائسته په یوه شپه دي منزلونه، مرحبا
په لویه لاز مي دَ جانان کړي خدمتونه، مرحبا

خدايه موتږ بوځې مديني ته
دَ پاك حبيب ښكلي روضې ته
چې محامخ شم شني ګنګلي ته

زهٔ نويه ګار به يار ته وايمه نعتونه، مرحبا
په لویه لاز مي دَ جانان کړي خدمتونه، مرحبا

***

## رباعي

الله مونږ ته رالیږلے چي قران دے
نازل شوي په نبي اخر زمان دے

کامیابي دَ دو جهان پکښې پرته ده
دَ هر چا چي دي قران باندي ایمان دے

شپه او ورځ په عبادت باندي مشغول شه
اخر تګ دے درنه پاتي دا جهان دے

توبه وباسه الله ته چي کامیاب شي
خالي لاس لاړ نهٔ شي دېر پکښې نقصان دے

کهٔ توبه د توبه ګاره په رښتیا کړه
خدائے به معاف کړي رحیم کریم رحمان دے

***

## رباعي

ډېر بې مثله حـــندار دے يار زما
په نبيانو کښې سردار دے يار زما

بې ذَ ياره تـــلې مې دَ زړهٔ نهٔ شي
دَ زخمي زړونو قرار دے يار زما

فرښتې ئې سلامې کړي هر اسمان کښې
چې روان دَ عرش په لار دے يار زما

پاک حبيب مې لامکان ته راز له تلې
دَ الله سره مهمان دے يار زما

دَ کوثر په غاړه جمع به امت کړي
دَ امت په غم غمخوار دے يار زما

ولې نهٔ به وي قرار دَ زخمي زړونو
توبه ګاره چې سرکار دے يار زما

***

دا ختم دَ قران مو حافظانو مبارك
قران باندې مئینو طالبانو مبارك

نن ورځ دَ خوشحالۍ ده رحمتونه راوربږي
دَ ډېرې خوشحالۍ نه اودهٔ زړونه راوبخیږي
په جمع سره ټولو مومنانو مبارك

الله درله درکړے ډېر عزت دے حافظانو
چې ستاسو شهٔ نصیب، عظیم دولت دے اے ګلانو
ښائسته ښائسته راغلی عالمانو مبارك

راجمع نن په دې دستار بندۍ کښې عالمان دي
سره دَ مهتمم صاحب نور کل واړه قاریان دي
دَ ښکلو اوازونو نعت خوانانو مبارك

الله به دوله درکړي جنتونه بدله کښې
هيڅ يو څوک طاقت نشته د قران مقابله کښې
جنت ته به ځندا ځله جنتيانو مبارک

توبې د الله در کښې زهٔ وباسم توبه ګار يم
الله که مې معاف کړي زهٔ وبر زيات ګناه ګار يم
په حق باندي ليکوالو شاعرانو مبارک
قران باندي مينو طالبانو مبارک
***

## فاني دنيا

دا دنیا ګوري فاني ده ناز پرې مهٔ کړه
نازېدل پرې ناداني ده ناز پرې مهٔ کړه

کهٔ مالداري مال دَ خدای په لار کښې ورکړه
دا دَ دوو ورځو خاني ده ناز پرې مهٔ کړه

ستا په شان ډېر لاړل خاورې پرې امباز شوې
دا نرې پاتې ارماني ده ناز پرې مهٔ کړه

چې هر څوک ګته کوي ګټیالي بولي
دَ دې ګټه تاواني ده ناز پرې مهٔ کړه

مرګ یو ورځ به دې مبلمه شي توبه ګاره
نن کهٔ ښکلې دِ ځواني ده ناز پرې مهٔ کړه

***

## نعت شریف

چې مې دنیا ته محمد رسول الله راغے
لاړې تیارې دَ کفر، رڼا سبا راغے

هر خوا تیارې دَ جهالت وې خدا ے چا نهٔ پیژندهٔ
رڼا رڼا شوه چې ښانسته مخ والضحیٰ راغے

خلقو خښولې به ژوندۍ لونړه عادت نې وهٔ دا
کړل خبردار نې چې مې سرورِ زیبا راغے

چا به سجدې کولې نمر چا به سپوږمۍ ستورو ته
بُت خانې ورانې شوې دعوت دَ الا الله راغے

چې به قیصې نې په تورات انجیل زبور کښې کېدې
زما جانان دَ مکې ښار ته په رښتیا راغے

زهٔ توبه ګار نې امتې یم امتې دَ نبي
صفت دَ یار خکه بار بار په خلهٔ زما راغے

***

## دَ الله قدرتونه

ربه ستا حکمونو نه قربان شم
ستا دَ قدرتونو نه قربان شم

تا چي مدني ګل له ورکړي دي
هغه عزتونو نه قربان شم

غار کښي دَ حرا پرې نازل شوي دي
ښکلو اياتونو نه قربان شم

تل په مدينه کښي راوريږي چي
دغه رحمتونو نه قربان شم

بيا بيا چي جانان دَ رب نه کړي وو
زهٔ هغه سوالونو نه قربان شم

خان ته ني بللے لا مکان ته وهٔ
زهٔ ني د رازونو نه قربان شم

زهٔ توبه ګار ښنګه به ني هېر کړمه
شوز احسانونه نه قربان شم

***

## رمضان

په دې میاشتو کښې یو غوره میاشت رمضان دے
نازل کړے په دې میاشت کښې خدا ے قران دے

اول لس ورځې ئې رحمت بیا مغفرت دے
غوره غوره دَ دې میاشتې عبادت دے
اخري لس ئې خلاصې بیا دَ نیران دے
نازل کړې په دې میاشت کښې خدا ے قران دے

چې ئې فرض سنت نفل واجبات
به پوره پوره چې وکړې عبادات
په مخلوق کښې بختور هغه انسان دے
نازل کړې په دې میاشت کښې خدا ے قران دے

یوه شپه پکښې دَ قدر نازلیږي
دا دَ زرو میاشتو زیاته حسابیږي
چې مومن وي څوک په دغه ئې ایمان دے
نازل کړې په دې میاشت کښې خدا ے قران دے

دروازې کهلاوې کړي د جنتونو
بندې کړي الله د واړو دوزخونو
دا فرمان د محمد اخرزمان دے
نازل کړي په دې میاشت کښې خدا ے قران دے

هم قران او هم رمضان به شفاعت کړي
د دوستانو به په ورځې د قیامت کړي
محبت نې ډېر پکار په دې جهان دے
نازل کړي په دې میاشت کښې خدا ے قران دے

توبه ګاره شپه او ورځې عبادت کړه
تیارے خان له د قبر او قیامت کړه
نن سبا کښې مرګے تاله راروان دے
نازل کړي په دې میاشت کښې خدا ے قران دے

***

## رباعی

خوږ بنی مې رحمت اللعالمین دے
په رښتیا باندې صادق دے هم امین دے

په ظاهره خو اخر دے پیدا شوې
حقیقت کښې اولین هم اخرین دے

صفتونه ئې شمارل څۀ اسان نۀ دي
یو صفت ئې چې امام المرسلین دے

قرباني ئې دَ اسلام دَ باره وړکړه
رسولے ئې موږ ته ښکلې اسلام دین دے

تعریفونه ئې قران کښې الله کړي
چې ستائیلے په طٰحه او په یٰسین دے

شفاعت به په محشر زموږه کاندي
توبه ګار وایي زما دغه یقین دے

***

# نصحیت

زهٔ چې ګورمه دَ خپل ګناه انبار ته
ويم چې څنګه به پيش کېږم رب جبار ته

دَ قيامت په ورځ چې رب حساب کتاب کړي
سزا ور به کړي الله بيا ګناه ګار ته

دې دنيا کښې ګرونده دَ نيک عمل کړه
تلل دې شته دے دَ خالق بادشاه دربار ته

هسې ته چې بيا په خپلو کړو ستومان نې
ملامته به ولاړ نې کردګار ته

مرګ نه سر درته ولاړ دے توبه ګاږه
خوشحالبړه مه دَ دې دنيا بازار ته

***

## نعت شریف

الله به مبي محبوب له سلامونه رالېږل
ذ ښكلي پاك قران ئي اياتونه رالېږل

اول وحي چې راغلله هغه غارِ حرا وه
نور وخت په وخت جانان له ئي خبرونه رالېږل

چې اقراء بسم ربك الذي خلق نازل شهٔ
هم داسې وار په وار ئي نور حكمونه رالېږل

الله وئيل محبوب مې رحمة للعالمين دے
په خپله ئي ورله خكه رحمتونه رالېږل

سلام وايي الله هم فرشتې انسانه وايه
مالك ذ دوجهان پرې درودونه رالېږل

مبلمه چې توبه گاره وهٔ جانان په لامكان كښې
امت له ئي الله ښخښهٔ مونخونه رالېږل

***

## نعت شریف

په سترګو ښکلوم به ګله ستا د وطن لارې
چې درشم مدینې ته
د خوږ زړه مې قرار نې
چې درشم مدینې ته

په ورځې د محشر به زمونږه شفاعت کړي
نه سوال به د الله نه د پاره د امت کړي
د حشر په میدان د ګناه ګار امت غم خوار ني
چې درشم مدینې ته

الله کړې صفت د محبوبه په قرآن کښې
بل ستاسو په شان نشته بناسته په دوجهان کښې
د نمر او د سپوږمۍ نه ته ښې شانه حقدار نې
چې درشم مدینې ته

په شپه کښې ذ معراج بللې پاک الله وے
میلمه په لامکان محبوبه ذ الله وے
قربان دې شمه ګله معشوقه ذ رب غفار ته
چې درشم مدینې ته

په زړه کښې مې ارمان لیدل مدینه ښار دے
الله مې ورله بوځه دا سوال د ګنهګار دے
په طمع ژوند تېرېږې په ارمان د دعې لاړې
چې درشم مدینې ته

***

## نصيحت

وايي الله کوه مور پلار سره احسان
حکم دے دَ رب غني سبحان

دَ پالَ الله کره عبادت
هم ډير دَ مور او پلار خدمت
شي کامیابي به دي نصيب په دو جهان
حکم دے دَ رب غني سبحان

دَ مور دَ پښو لاندي جنت دے
دغه بيان مي دَ حضرت دے
ورته چي اف ونه کړي شته يکښي نقصان
حکم دے دَ رب غني سبحان

خوږي خبري لکه قند
ښي ورځي ورسره وکړه په خوند
هسي نه مور او پلار له خبري کړي کړيوان
حکم دے دَ رب غني سبحان

دا گوري لويه سرمايه ده
دَ دعاگانو خزانه ده

نه درته دره بیا به ډېر وکړي ارمان
حکم دے دَ رب غني سبحان

څوک چې دَ مور او پلار ازار
اخلي یو ځل نه په بار بار
دنیا ئې خواره هم به سوزي په نیران

رشته دَ مور او پلار نهٔ غوره
نشته دنیا کښې معتبره
لرم په دې خبره زهٔ یقین ایمان
حکم دے دَ رب غني سبحان

په پښتو ژبه نصیحت
درته مې وکړهٔ وضاحت
ما توبه ګار خبرې وکړې دَ قران
حکم دے دَ رب غني سبحان

***

## نعت شریف

ښکلے دوست دے دَ الله
پاک رسول الله
دي أعلاو کښې أعلیٰ
پاک رسول الله
دے دَ رب نیازبین نبی
دبـــر دے بهترین نبی
یاد دے په یاسین نبی

ګران دے په غنی مولا
پاک رسول الله

غوره د انسانو دے
فخر دَ جهانو دے
ګل دَ امتيانو دے
محمد رسول الله
پاک رسول الله

شو په لامکان میلمه
دبر وه قدردان میلمه

هلته دَ سبحان میلمه
غوبشتي وهٔ محبوب الله
پاك رسول الله

دے شفیع المذنبین
اولین هم اخرین
رحمت اللعالمین
یاد شهٔ په کلام الله
پاك رسول الله

یاد کښي ستا اشعار لیکم
ستا صفت بار بار لیکم
مدحې توبه ګار لیکم
نې فرزند دَ عبدالله
پاك رسول الله
***

## قرآن شريف

هله خبر شوم چي قرآن مي ووي
دَ خداے په فضل او احسان مي ووي

چي بسم الله نه مي شروع وکړله
دَ اول خوا نه مي شروع وکړله
پکښې يو برخه دَ ايمان مي ووي
دَ خداے په فضل او احسان مي ووي

پکښې قيصې دېرې خوږې پرتې وې
څۀ پکښې لنډې څۀ اوږدې پرتې وې
قيصه دَ يوسف او دَ کنعان مي ووي
دَ خداے په فضل او احسان مي ووي

دے نازل شوے په ژبه عربي
په پاک نبیﷺ آخر زمان عربي
بيانسته سورة سوره رحمن مي ووي
دَ خداے په فضل او احسان مي ووي

ذکر دَ لیلة القدر دے پکښې
دَ زرو میاشتو نه بهتر دے پکښې
پکښې صفت دپر دَ رمضان مې ووې
دَ خدائے په فضل او احسان مې ووې

دَ خیر او شر خبرې هم وې پکښې
ورځ دَ محشر خبرې هم وې پکښې
بیان دَ زمکې او اسمان مې ووې
دَ خدائے په فضل او احسان مې ووې

په توبه گار وشۀ انعام دَ رب
گوره چې وې لوستۀ کلام دَ رب
دغه شعرونه په څۀ شان مې ووې
دَ خدائے په فضل او احسان مې ووې

***

## امر دَ الله دے

امر دَ الله دے

عربي جانان مي جنګ له ځي
مخکښي ترې محبوب دے اصحاب ورسره څنګ له ځي

امر دَ الله دے

امر دَ الله دے پاك رسول مي دا اعلان وکړهٔ
ټولو صحابو ته ني څهٔ دا رنګې بيان وکړهٔ
جنګ له خان تيار کړئ ورسره دَ تورو شرنګ له ځي

امر دَ الله دے

دغه عاشقان وو پاك رسول سره روان شول
څومره بختور وو دغه واړه جنتيان شول
واړه قربانيږي سور ميدان په وينو رنګ له ځي

امر دَ الله دے

ګرم دے ميدان ډير کفار ئي مرداران کړل
ډيرو په محبوب باندې سرونه خپل قربان کړل
څومره قدردان وهٔ دَ محبوب ناموس او ننګ له ځي

امر دَ الله دے

وګوره پتنګ نه چې په شمع تې خان سېزلے دے
دے دَ قرباني دَ پاره شمعې له ورغلے دے
دا نهٔ دے قانون چې به شمع اوس پتنګ له خي
امر دَ الله دے

استاذه توبه ګاره په ما فضل دَ سبحان وشهٔ
خکه مې په خلهٔ باندې صفت دَ خوږ جانان وشهٔ
واره نعت خوانان عمر حيات غونډې ملنګ له خي
امر دَ الله دے

***

## نعت شریف

ورله مې بوځې ربه خېرالانبیاﷺ له خمه
مدینې ښار ته هاشمي خیرالوریٰ له خمه

ورله مې بوځې
دَ یار وطن ښکلے دے
هغه مسکن ښکلے دے
ما نې بلبل کړې ربه
هغه چمن ښکلے دے
فدا پتنګ یمه زهٔ ښهٔ دَ شمعې څوا له خم
ورله مې بوځې

په انتظار یمه زهٔ
په زړهٔ بیمار یمه زهٔ
ناست دَ مودو نه تږې
بس دَ دیدار یمه زهٔ
چې دَ فخرالانبیاﷺ هغه شهنشاه له خمه
ورله مې بوځې
صدیق اکبر دے پکښې
حضرت عمر دے پکښې

حضرت عثمان غني
دَ حيا غر دے پکښې
خاورې مرهم مې دَ زړهٔ کلي دَ اشنا له خمه
ورله مې بوخې

دَ زړهٔ قرار دے زما
خير الابرار دے زما
کړې شفاعت به زمونږ
دغه اعتبار دے زما
دَ انبياو امام ښکلے مخ زيبا له خمه
ورله مې بوخې

زهٔ توبه ګار غوارمه
په هزار وار غوارمه
حرم دَ ښکلي نبیﷺ
نبیﷺتاجدار غوارمه
په شنو پردو دننه ختم الانبیاﷺ له خمه
ورله مې بوخې
***

## نعت شریف

نمر درنه شرمیږي هم سپوږمی پټوي خان
ګران نبي په سبحان محبوبه ګران نبي په سبحان

دا ستا برکت دے چې یو مونږ مسلمانان
بیا مو خوشحالي دا ده چې ستا یو امتیان
واړه بختور دي چې په تا لري ایمان
ګران نبي په سبحان محبوبه ګران نبي په سبحان

توري تیاري لاړي هر طرف شوي رڼاګاني
هم په هر طرف شوي دَ اسلام شمعي روښناني
ته شمع دَ نور نبي درځي تاله پتنګان
ګران نبي په سبحان محبوبه ګران نبي په سبحان

ستا جلوه دَ نور چې دَ صدیق په زړهٔ کښي خښه شوه
وګوره عمر ته چې نبي دا نخښه په نخښه شوه
ستا په رنګ علي رنګ شهٔ هم حضرت عثمان

ګران نبي په سبحان محبوبه ګران نبي په سبحان

شپه کښې دَ معراج محبوبه رب خان ته بللې يې
هم په نوادرو جنتونو ګرځېدلے يې
وې مبلمه دَ رب حبيبه تهٔ په لامکان
ګران نبي په سبحان محبوبه ګران نبي په سبحان

ما کهٔ الله شمار کړي ستا د در په غلامو کښې
نهٔ غواړمه خان د دے دنيا په سلطانو کښې
دے چېر د مونږ د توبه ګران دغه زمونږ
ګران نبي په سبحان محبوبه ګران نبي په سبحان

***

قرآن

## قران

قران راواخله پکښې کره تلاوتونه
په ورو ورو وايه ښکلي ښکلي اياتونه

قران کښې حکم دَ الله دے
نازل په پاک رسول الله دے
عمل پرې وکره رب به درکړي جنتونه
په ورو ورو وايه ښکلي ښکلي اياتونه

دَ الحمد نه تر والناس ښهٔ ورته کښېنه په اخلاص
خان پرې ښهٔ پوهـ کړه دَ الله پاک دي حکمونه

دَ خدا ے دَ لوري نه بيان
دَ خير او شر پکښې عيان
پکښې راغلي پاک نبي ته سلامونه
په ورو ورو وايه ښکلي ښکلي اياتونه

شفا ده دا دَ مومنانو

جبر کړي خان مسلمانانو
ستاسو دَ پاره دَ الله دي رحمتونه
په ورو ورو وايه ښکلي ښکلي اياتونه

توبه ګار سوال کړي هر زمان
عــمل زمونږ کړي په قران
خکه ليکي دکمال ډك ښکلي شعرونه
په ورو ورو وايه ښکلي ښکلي اياتونه

***

## نعت شريف

پیدا چي ذ مخ نه الله ني دنیا کړه
تیاري لاړي لاړي هر خوا ني رڼا کړه
ستا غېږ کښې دے پروت لدردان مدینې
په تا کښې اوسېږي جانان مدینې

راتلو چي جبرائیل مدینې ستا کوڅو ته
ورتلو په ادب به ذ یار دروازو ته
درکړے الله دے لوے شان مدینې
په تا کښې اوسېږي جانان مدینې

رحمت ذ الله تل په تا راورېږي
درخي عاشقان په روضه کښې ژړېږي

په تا دے کرم ذ سبحان مدینې
په تا کښې اوسېږي جانان مدینې

شي کله خادم توبه ګار په حرم کښې
چې وايي درود او سلام هر قدم کښې
يادېږي زما په ايمان مدينې
په تا کښې اوسېږي جانان مدينې
***

دا مې ارمان دے چې لېبلک شعري وهلے مې وي
په لبو لبو ډ زم زم اوبۀ چې څښلے مې وي

طواف مې کولې بېت الله نه
سوالونه کول مې ډ الله نه

حجراسود په خپلو شونډو چې ښکل کړي مې وي
په لبو لبو ډ زم زم اوبۀ چې څښلے مې وي

بیا ډ صفا نه مې مروة ته
رسمونه کول مې لوېه ذاته

ډ هاجرې بي بي یادونه تازه کړے مې وي
په لبو لبو ډ زم زم اوبۀ چه څښلے مې وي

بیا مدینې ته وې روان
دا په لوے فضل ډ سبحان

درود سلام ورتلو سره په یار ونبلے مې وي
په لبو لبو ډ زم زم اوبۀ چې څښلے مې وي

په لپو لپو دَ زم زم اوبهٔ چې څښلے مې وې

ولاړ وم رياض الجنت کښې
مشغول وې زهٔ په عبادت کښې
خاے دَ اذان چې دَ بلال صاحب کنلے مې وې
په لپو لپو دَ زم زم اوبهٔ چې څښلے مې وې

چې مبلمه شوې توبه ګار وې
بنکلے حرم کښې دَ سردار وې
په مينه مينه خپل محبوب ته دېر ژړلے مې وې
په لپو لپو دَ زم زم اوبهٔ چې څښلے مې وې
***

نشته دے پُرسان

نهٔ مې لهٔ قصور کړې نهٔ مې څهٔ نقصان
بې ګناه قتلېږم نشته دے پُرسان

وينه مې ارزانه ده هر ځاے کښې توېږي
يم ګونه په خلهٔ ورته دا به څهٔ چل کېږي
شته دے دَ ډالر قدر نشته دَ انسان
بې ګناه قتلېږم نشته دے پُرسان

لاړ شمه بازار ته ځان له غريبي کوم
کور مې ماشومان دي خپله مزدوري کوم
پاتې شي وارهٔ بچي ما نه يتيمان
بې ګناه قتلېږم نشته دے پُرسان

لاړ شم چې جومات ته مونځ باجماعت کوم
پروت يم په رکوع سجده رب له عبادت کوم
هلته دهماکې کوي ډېر دي ظالمان
بې ګناه قتلېږم نشته دے پُرسان

ځوک وايي امريکه ده ځوک وايي طالبان
بې ګناه قتلېږم نشته دے پُرسان

وار دَ ظلم تېر به شي زور دَ ظالمانو
ډېره بې عزتي وکړه دوي دَ عالمانو

دا يو امتحان دے نن په مسلمان
بې ګناه قتلېږم نشته دے پُرسان

وايي توبه ګار رب نه کوي سوال
رحم وکړه خدايه ته زمونږ په حال
برخه مو نصيب کړې ته دَ خوږ ايمان
بې ګناه قتلېږم نشته دے پُرسان

***

زما جانان چې پکښې کېښول قدمونه
مدينه شوله بختوره مدينه

محبوب دَ رب چې ورله راغے . مدينه
ګلِ ګلزار شو هغه شاړي صحري غرونه
دا برکت مې دَ جانان دے، مدينه
کړي عاشقان دَ کل جهان پرې سلامونه
څهٔ بختور ايوب انصار وهٔ، مدينه
بنکلے محبوب ورکره يورهٔ تشريفونه
چې دَ راتلو خبر ئې راغے، مدينه
واړه انصار ئې دَ ديدن په ارمان وونه
جوړ ئې مسجد نبوی کړهٔ ،مدينه
پکښې کول حضرت بلال به اذانونه
توبه ګار وايي څنګ چې لاړ شو، مدينه
جنګلي سره چې بار ته ووايو نعتونه

***

ربه مکې له خمه
زهٔ مدینې له خمه
دَ جنتونو ګوره هغه باغچې له خمه

پکښې جانان دے زما
ډېر قدردان دے زما
دیدن به نې کله وکړم
دغه ارمان دے زما
دَ دین چینې له خمه

زما دَ یار وطن دے
ګل او ګلزار وطن دے
ورله خزان نشته دے
بهار بهار وطن دے
هغه قریشې له خمه

چې [illegible] به راتلو
هم میکائیل ﷺ به راتلو
په احترام احترام
ډېر جبرائیل ﷺ به راتلو
دغه کوڅې له خمه

ورله حاجیان چې ورځي
دا صاحبان چې ورځي
دَ پاک رسول ﷺ دَ مینې
ډېر عاشقان چې ورځي
ښکلې روضې له خمه

زهٔ توبه ګار یم ربه
ډېر ګناه ګار یم ربه
دیدن پسې دَ جانان
په زړهٔ بیمار یم ربه
زهٔ ښې جنګلې له ورخم

***

حبیبه دا په مونږ دَ خدای مهرباني ده
زمونږ خوش نصیبي ده چې ستا یو امتیان

تن چې ایمان مو په الله دے
ذکر زمونږه لاإله دے
دا خو محبوبه ستا د پاره قرباني ده

زمونږ دَ پاره دي الله نه
سوالونه وکړه قدر دا ته
الله وي غواړه ته دَ هر څه ازادي ده

ستا په رانلو بنسان نکور شو
کافران واړه ګډ په شور شو
دَ امینې بي بي په کور جوړه ښادي ده

پورته ورے لامکان ته تلے

الله ورے خپل ځان ته بللے

الله درکړے په خپل عرش کښې مېلمانې ده

رب په نصيب ذ تو په ګار کړه

ذ مدني جانان ديدار کړه

نوره خو هسې هم دنيا ټوله فاني ده

***

## د دنیا ژوندون

ز دنیا به دي ژوندون کښې هسې سرګردان یم
نه الله مې خپل رضا کړهٔ نهٔ رسول ورته حېران یم

هسې ګرځم دي دنیا کښې خدائے راکړي راله ساه ده
اوبهٔ ښکلې ما دَ پاره پیدا کړي ټې هوا ده
دَ سپوږمې رڼا دَ شپې دي هم دَ ورځې ترې نمر وي
حواله دے زما رزق کهٔ په سمه کهٔ په غر وي
دَ دي دومره نعمتونو سره ناشکره خه انسان یم

پیدا کړے خو الله یمه زهٔ خپلې بندګۍ له
نهٔ په شان دَ درنده هسې عیشې زندګۍ له
نوم شمار کړے دے الله زما په اشرف مخلوقاتو
ژړا راشي چي نظر وکړم په دي خپلو حالاتو
سر مې ابنې په زنګون ګوته په خلهٔ ډېر پرېشان یم

نعمتونه ډېر راکړي دي خالق پروردګار
خو زهٔ نهٔ شومه یو وخت عبادت لره اوزګار

ښکلې ښکلې لاس او پښې نې هم راکړې سترګې سر دې
زما شکل خوږه ښوره رب جوړ کړي په هنر دې
خورم نکړي په تباره کښې په غلطه لار روان يم
پيدا شوے يم په کور د مسلمان کښې بختور يم
بله دا چې امتي د هاشمي نبی سرور يم
نصيب کړي پاک مولا لا اله الا الله ده
پوره شوي کليمه په محمد رسول الله ده
مومن هله به جوړيږم چې قائم په خپل ايمان يم

راشه وباسه توبه الله رضا کړه توبه ګاره
چې الله درې خوشحالېږي شه روان په هغه لاره
چې الله درنه راضي شي هر يو کار به دې اسان شي
هم په قبر کښې اسان به د منکر نکير پرسان شي
وايه ربه په دې کړي ګناه زه ډېر پښېمان يم
***

ښکلې ده نامه دې مبارکه ده
یا نبي روضه دې مبارکه ده

نهٔ رسي ستا شان ته هڅوک نهٔ رسي
څومره مرتبه دې مبارکه ده

ستا اوصاف قران کښې رب ستائیلي دي
هره یو قیصه دې مبارکه ده

پښې ابلې پښې جبرائیل په ګرځېدهٔ پکښې
کور او هم کوځه دې مبارکه ده

ډېر نې دَ لیدلو په ارمان ګرځي
ګله مدینه دې مبارکه ده

ګېر چاپېره ستا ښکلې روضې نه ده
شته هغه ځنګله دې مبارکه ده
لیکي ستا نعتونه توبه ګار ګله
هر یوه جمله دې مبارکه ده

***

## تېمګرې ژوند

ژوندون ورو په ورو تېرېږي
مرګ ته شپې ورځې لنډېږي

دنيا پاتې له هر چا ده
کهٔ هر څو پرې څوک نازېږي

دٔ هر چا دٔ ګور مېلمه دے
څوک خفه کهٔ خوشحالېږي

نګ به واړي به ضرور کړي
چې دنيا کښې څوک اوسېږي

مور پلار مخ به کفن پټ کړي
بچې سرې سترګې ژړېږي

کهٔ هر څومره بې وفا ده
زړهٔ دٔ چا ترې نهٔ صبرېږي

حقه لار ده توبه ګاره
تلهٔ دٔ چا پرې نهٔ خوښېږي
***

## حضرت بلال رضی الله عنه

ستا سینه کښې يروت چې په سرو شگو يې حال وۀ
نا باندې شېدا محبوبه نا باندې بلال وۀ

ناسو نې دَ پتو اواز جنت کښې اوريدلے دے
ستا وۀ موذن حبيبه دا هغه بناغلے دے
رب ورله ورکړۀ خوږ اواز نې بې مثال وۀ

ستا نه دَ معراج په شپه چې حورې وکړۀ سوال
څوک به وي خاوند زما جنت کښې وايه حال
ناسو ورته ياد کړلو بلال وک دَ کمال وۀ

حورې وي قربان شم ستا بلال دَ رنگه تور دے
وګوره زما حسن پيدا دَ رب له نور دے
حورې ته نې تا دَ لوړ مقام ونيلے حال وۀ

وۀ له رنگه تور رب ورکړے لوړ مقام وۀ
ستا خوا ته راغلے دَ حبشو نه گل فام وۀ

پله دَ اصحابو کښي ښکاره لکه هلال وهٔ

وونیل عمر بلال ته الله اکبر کړه تهٔ
راشئ دَ خلاصي ځاے ته تمام عالم خبر کړه تهٔ
ګوره توبه ګاره دا دَ دین ښکلے مثال وهٔ

***

## مور ته دَ دعا درخواست

وډېري چي کور ته دَ الله موري
ما دَ پاره وبه کړي دعا موري

ما دَ پاره رب ته ډېر ډېر وژاړه
خوښه به شي رب ته ستا ژړا موري

ستا دعا ته موري زهٔ محتاجه یم
بس دغه ارزو لرم له تا موري

کله چې طواف د بیت الله کړې
دېر دېر کړه ذکر د مولا مورې

وخکې چې زم زم به په مره مره
اوس به خې صفا نه تر مروا مورې

رب وایې مور پلار سره احسان کړئ
دا احسان به تهٔ وکړې په ما مورې

کله چې روانه مدینې نه شې
دې ښکلي وطن مې دَ الا مورې

دغه شنه جنګله کښې مې جانان اوسې
دا وګوره ګنبدَ حضرا مورې

مورې توبه ګار ته دعاګانې کړه
راشې چې حرم ته به بیا بیا مورې
***

## نعت شریف

دمه به شي که ستري ذ جانان کلي ته راغلي
زړګيه ذ نبی اخرزمان کلي ته راغلي

خو خله ئې قربان کړه مال او سر ذ دين ذ پاره
دا ته خو ذ صديق ښکلے انسان کلي ته راغلي

ذ عدل تاريخونه چې دنيا ته ئې عيان دي
خندېږه ذ عمر عجيبه خوان کلي ته راغلي

چې وه نرم مزاجه په رښتيا ذ حيا غر وه
قربان شم ذ عثمان ابن عفان کلي ته راغلي

بابا ذ حسنينو ذ محبوب ذ کاکا خوے وه
بهادر وه ذ علی مرد ميدان کلي ته راغلي

په يو شپه چې ذ فرش نه عرش ته لاړو هغه دا دے
الله سره به عرش کښې ذ مهمان کلي ته راغلي

قدم قدم چې اخلې توبه ګاره خوشحالېږه
نور څه غواړې چې ته ذ قدردان کلي ته راغلي

***

دَ محبوب دَ کلي شيې ورځې خوږې وي
خومره ښې وي په والله چې دَ مزې وي

شين گنبد هسې له ورايه نې ځلېږي
دَ جومات نې لوړې لوړې منارې وي

جوخته په خوا کښې نې ياران دواړه اوسېږي
دَ مزار نه نې چاپېره ښنې پردې وي

دَ جنګلو سره په خوا کښې به نې ناست وم
شکر دا چې مې په برخه شوګېرې وي

دا روضې ته مخامخ بابُ السلام دے
نورې هم نې ښکلې ښکلې دروازې وي

يا رسول الله سلام به نې کولو
دَ هر چاپه خلهٔ به دغه ترانې وي

توبه ګاره دا په نا دَ رب کرم دے
ګنې ته خو ډېر بې وسه بې اسرې وي
***

## نعت شریف

وروېږي برې رحمت دَ رحمتونو خاے ته راغلې
کوه درود سلام دَ سلامونو خاے ته راغلې

دا سرورِ عالم دے ورسره صدیق عمر دے
ورو ورو خه په قطار دَ قطارونو خاے ته راغلې

په دغه دروازه به جبرائیل ؑ راتلو جانان له
کړه شکر دَ جبرائیل ؑ دَ قدمونو خاے ته راغلې

دا ریاض الجنت دے عبادت باندې مشغول شه
سر کېږده په سجده دَ ثوابونو خاے ته راغلې

چې مونځ دې به بشخوس زره قبلېږي دَ رب در کښې
حدیث دَ پاک نبی دے دَ مونځونو خاے ته راغلې

دا مخامخ ده جنت البقیع ورته حاضر شه
دا نهٔ دَ اصحابو دَ قبرونو خاے ته راغلې

دا وګوره محراب دَ پاک رسول دا ئې ممبر دے
ایله چې دَ بلال دَ اذانونو خاے ته راغلې

هر وخت پرې بهار وي چرې نهٔ راځي خزان
ګلزار دې دَ سرو ګلو دَ ګلونو خاے ته راغلې

روضې سره ئې ودرېږه په مینه مینه وایه
اوس نهٔ خو توبه ګاره دَ نعتونو خاے ته راغلې

***

## الوداعي رباعي

په حرم دي د رحمت باران وربېږي
لویه خدایه څو بس مونږ نه پاتې کېږي

زه د هغو نصیبونو ته پسخېږم
شامدام چې په حرم کښې څوك اوسېږي

د کعبې نه رخصت اخلې ورته ګوري
عالمونه دي په سرو سترګو ژړېږي

راروان شي څو قدمه بیا واپس شي
ځېن زړونه په دیدن کله مړېږي

مجبوري ده چې روان شو خپل وطن ته
په ارمان ارمان ني کډې خې بارېږي

بیا بیا شا ته ورته ګوري زړهٔ ئې نهٔ شي
سترګې ګوري خو په زړونو کښې خښېږي

دَ شمار شپې ورځې وې هیڅ پرې پوهه نهٔ شو
دغه رنګې مرګ ته شپې ورځې لنډېږي

دَ بار بار راتلو ترې سوال کړه توبه ګاره
دَ رب کور دے پکښې هر یو سوال قبلېږي
***

## نعت شریف

محبوبه ما چي ستاسو در کښي قدمونه کښېښول
د خوشحالی نه مي يو څو په زړهٔ داغونه کښېښول

وهٔ اسوے لوے مي دَ زړهٔ تاو دَ هجران وهلے
تاسو دَ مينې نه څو ډك ورته جامونه کښېښول

جي ستاسو کلي کښي مېلمه شهٔ دا زخمي زړگے مي
بيا به اخلاص تاسو دَ وصل ټکورونه کښېښول

دَ مديني دَ کوڅو قدر تري څو چندهٔ ډېر وهٔ
ما ورته تله کښي دا زمکي اسمانونه کښېښول

محبوبه ستا ښکي گنبد نه چي مي نبغ وکتل
جلوي تري تللي زر به سترگو مي لاسونه کښېښول

جا جي تپوس رانه حبيبﷺ ستا دَ کلي وکړهٔ
ما توبه گار ورته جوړ کړي ستا نعتونه کښېښول

***

## نعت شریف

ولې راتلې خو مدینه کښې اوسېدے به کۀ نه
قربانېدې به کۀ نه دَ شین ګنبد نه

چې لاړې ریاض الجنت ته
ښکلې محراب دَ پاک حضرت ته
هغه مقام دَ لوی عزت ته

دَ روضې خوا سره محبوب ته ژړېدې به کۀ نه
قربانېدې به کۀ نه دَ شین ګنبد نه

باب السلام باندې روان به وے
حبیب نه هر وخت خار قربان به وے
ناست به جومات کښې دَ جانان به وے

دَ اصحابو په صفه مشغولېدې به کۀ نه
قربانېدې به کۀ نه دَ شین ګنبد نه

تا نۀ لیدل چې قدردان دے پکښې
دَ حسینو باباجان دے پکښې
رحمت دَ زمکې او اسمان دے پکښې

لکه پتنګ هغه چراغ نه تاوېدي به کهٔ نه
قربانېدي به کهٔ نه دٔ شین ګنبد نه

درنه شوه پاتې هغه لاره
بابُ الرحمت نه تر مزاره
به خان پوهه نهٔ شوې توبه ګاره

نېك بخته څهٔ دي کول خو هلته ګرځېدي به کهٔ نه
قربانېدي به کهٔ نه دٔ شین ګنبد نه

***

## نعت شریف

کله مدینه کله مکه رایادوي
ما ته مي خیالونه شه جنګله رایادوي

کله کله لاړ شي بیت الله ته طوافونه کړي
کله استلام حجراسود ته سلامونه کړي
کله دٔ مقام ابراهیم سره مونځونه کړي
کله دٔ زم زم یخه چینه رایادوي
ما ته مي خیالونه شه جنګله رایادوي

کله وهي منډې دٔ صفا نه خي مروه ته
کله خي احرام تړلے غاړه کښي منی ته
کله عرفات کښي ژړاګاني کړي الله ته
کله راته لاړ کښي هغه شپه رایادوي
ما ته مي خیالونه شه جنګله رایادوي

کله راته یاد کړي دٔ باب السلام قطار
کله کله لاړ شي وي روضي سره اپسار
کله کړي دٔ میني سلامونه په سردار

کله دَ اصحابو چبوتره رایادوي
ما ته مې خیالونه شنه ځنګله رایادوي

کله مې روان کړي دَ اصحابو مقبرې ته
کله شین ګنبد ته ګورې کله منارې ته
کله په ادب ولاړ جوخت لاس راوړي سینې ته
کله دَ عائشې بي بي حجره رایادوي
ما ته مې خیالونه شنه ځنګله رایادوي

کله خو مونځونه کړي په ریاض الجنت کښې
کله دَ محبوب خوانه مشغول وي عبادت کښې
کله دَ الله ذکر کوي ناست وي راحت کښې
کله دَ بلال اذان خانه رایادوي
ما ته مې خیالونه شنه ځنګله رایادوي

کله مې ورسره کړي دَ اُحد په شهیدانو
کله قبلتین کله قُبا ته خې یارانو
کله کړي خندق سره قیصې دَ غزاګانو

کله دَ حمزه صبب مرتبه رایادوي
ما ته مې خیالونه شنه جنګله رایادوي

کله راته وایي دلته څهٔ کړې توبه ګاره
کله وایي دا به څهٔ ژوندون وي بې له یاره
کله راته وایي قافله شوله تیاره
کله راته حج کله عمره رایادوي
ما ته مې خیالونه شه جنګله رایادوي

***

## نعت شریف

ولیدي تا دَ حرم لوري مناري . راته ووایه
څنګه وي کوڅې دَ مدینې . راته ووایه

دَ بیت الله نه طوافونه به وو
حجراسود ته سلامونه به وو
بیا دي تازه کړهٔ یاد دَ بي بي هاجرې. راته ووایه
څنګه وي کوڅې دَ مدینې . راته ووایه

دَ شین ګنبد به دي دیدار کړے وي
بو خلې نه تا به بار بار کړے وي
دَ محبوب ګلي کښې وي څنګه ورځې شپې . راته ووایه
څنګه وي کوڅې دَ مدینې . راته ووایه

تا دَ باب السلام قطار ولیدهٔ
ښکلې جومات دے دَ سردار ولیدهٔ
په کومه لاره به جانان له تلې راتلې. راته ووایه
څنګه وي کوڅې دَ مدینې . راته ووایه

درود سلام به ډېر ونیلي وي تا
دَ روضې خوا کښې به ژړلي وي تا

... سري سري، راته ووايه
څنګه وي کوڅې دَ مديني ، راته ووايه

خوا ته ئې دواړه وزيران وو
څنګ کښې پراتهٔ دَ قدردان وو
وي دَ مزار نه ئې چاپېره شنې بردې، راته ووايه
څنګه وي کوڅې دَ مديني ، راته ووايه

دا دَ صديق او دَ عمر کلے دے
دا عثمان او دَ حيدر کلے دے
چې جبرائيل پرې ګرځېدې ښنې ابلې ښنې، راته ووايه
څنګه وي کوڅې دَ مديني ، راته ووايه

په توبه ګار کهٔ رب احسان وکړي
بيا به دېدن دَ قدردان وکړي
ليکي په مينه ښکلې ښکلې تراني، راته ووايه
څنګه وي کوڅې دَ مديني ، راته ووايه

***

نعت شريف

## نعت شریف

بیا دَ یار دَ چم کوڅې راپادې شوې
ما ته دَ حرم کوڅې راپادې شوې

بیا راته راپاده مدینه شوله
داسې دم په دم کوڅې راپادې شوې

چرته چې جبرائیل په احترام راتلو
دَ نبي اکرم کوڅې راپادې شوې

شنه دَ جنتونو نظارې پکښې
بېکلې دَ صنم کوڅې راپادې شوې

ډېر کړه وې زخمي زړهٔ پکښې جوړ به شي
دَ زړګي مرهم کوڅې راپادې شوې

زړهٔ دَ توبه ګار ترې نه صبرېږي نه
قدم په قدم کوڅې راپادې شوې

***

## نعت شریف

## نعت شریف

ذ مینې مدرسه ده عاشقان پکښې جوړیږي
ذ سوي لوي زړونو بیماران پکښې جوړیږي

په ښار ذ مدینه کښې رنګ په رنګ ښکلي ګلان دي
هر خوا نه خوشبویي دي بوراګان پکښې جوړیږي

لیدو ذ شین ګنبد کښې عجیبه غوندې مزه ده
که بېژني څوک مینه قدردان پکښې جوړیږي

دیدار مې ذ محبوب ذ روضې ډیر برکتناک دے
ابله سړے په سچه مسلمان پکښې جوړیږي

ذ زړونو صفایاني پکښې شي خاے بختور دے
ایمان که وي کمزورے کلک ایمان پکښې جوړیږي

په شان ذ توبه ګار که ناالقه ورله ورشي
کرم پرې وکړي رب بنه شاعران پکښې جوړیږي

***

## نعت شریف

## نعت شريف

اوربهدو کښې نې مزه ده هم ليدو کښې نې مزه ده
دَ روضې خوانه چې لاړ شې بس کتو کښې نې مزه ده

دَ جنګلې سره ولاړ وې څوک غمژن وې څوک خوشحاله
کهٔ خندا نې ده دَ مينې ژړېدو کښې نې مزه ده

هر طرف ته چې نې ګورې مدينه بهار بهار ده
کهٔ صحرا ته نې نظر کړې تورو غرو کښې نې مزه ده

به رياض الجنت کښې ناسته دَ جنت نه کمه نهٔ ده
عبادت پکښې دېر خوند کړې شوګيرو کښې نې مزه ده

اې رضوانه لږ مې پرېږده چې دا سترګې پرې مرې کړم
په نصيب بمه راغلے شتو پردو کښې نې مزه ده

توبه ګاره رب ته ژاړه چې بيا لاړ شې مدينې ته
دا سفر بڼکلے سفر دے تلو راتلو کښې نې مزه ده

***

## رباعي

خپل ځان به وويني جهان به هلته و پيژني
مينه كهٔ پيژني جانان به هلته وپيژني

دٔ مديني صفت به ډېر ډېر اورېدلي وي تا
لاړ شه كوځې دٔ قدردان به هلته وپيژني

دٔ روضې خواته به ولاړ وي په سلګو به ژاړي
دٔ يار دٔ مينې عاشقان به هلته وپيژني

تا ته قبصې به دٔ اُحد جا خامخا كړي وي
دٔ اُحد خوا كښې شهيدان به هلته وپيژني

دٔ مديني منورې خلق خوارهٔ خوارهٔ دي
لوړے ني لا څهٔ كړي ماشومان به هلته وپيژني

اې توبه ګاره كهٔ بيا لاړې دٔ محبوب كلي ته
ښهٔ به پرې پوه شې سود او زيان به هلته وپيژني

***

## نعت شريف

## نعت شریف

والله سم مې به دې دنيا جنت ليدلے دے
جومات مې مدينه کښې د حضرت ليدلے دے

ښائسته نې لوړې لوړې زړه راښکونکې منارې وې
د پاسه د روضې مې شين ګنبد ليدلے دے

روضې ته چې راځي برې عاشقان باب السلام دے
نژدې مې ورسره باب الرحمت ليدلے دے

ښکاريږي دا صفه مې د محبوب د زمانې وه
په ټول جومات کښې دا ځاے مې اوچت ليدلے دے

وره شانتې غونډۍ وه د اُحد د غر په څوا کښې
ميدان مې د حمزه د شهادت ليدلے دے

وئيل مې نرۍ زړه نه وه څو مجبورۍ وه توبه ګړه
سعوديانو کښې مې داسې حکومت ليدلے دے
***

## نعت شریف

دا ښکلې ښار مې ذ جانان ذ اوسېدو ځاے دے
دا مدينه ده ذ رحمت راورېدو ځاے دے

دا مځامځ در ښکاره شوې منارې ذ حرم
سترګې مرې کړه پرې ذ زړه ذ ېخېدو ځاے دے

وګوره شين ګنبد جلوې کوې واکاګې زړونه
ورته ډېر ډېر ګوره والله چې ذ کتو ځاے دے

ورشه قطار کښې چې روضه ذ قدردان وويني
درود سلام ورته کوه ذ تېرېدو ځاے دے

دا هغه ځاے دے چې راغلې ذ جنت زمکه ده
دلته زړېږه ذ دعا ذ قبلېدو ځاے دے

دلته راغلے دي چې څوك رب نې توبه قبلوي
توبې وباسه توبه ګاره ذ توبو ځاے دے

***

## رباعي

بیا طواف دٔ بیت الله ته مې زړهٔ کېږي
مبارك كور دٔ الله ته مې زړهٔ كېږي

دٔ مقام ابراهیم سره مونځونه
وربسې صفا مروه ته مې زړهٔ کېږي

چې ورومبی وحي جانان له وه راغلې
یو ځکر غارِ حرا ته مې زړهٔ کېږي

روح او تن چې په لیدو ئې خوشحالېږي
خوږ وطن دٔ مصطفیٰ ته مې زړهٔ کېږي

اعتراض چې پرې هېڅوك كولے نهٔ شي
بیا بیا یا رسول الله ته مې زړهٔ کېږي

په ریاض الجنت کښې ناسته رب نه غواړم
دٔ روضې خوا کښې دعا ته مې زړهٔ کېږي

کله تلې چې مدینې کله مکې ته
بس هم دغه مشغولا ته مې زړه کېږي

چې رضوان ترې راشړلم زه ولاړ وے
په مزه مزه ژړا ته مې زړه کېږي

توبه ګاره چې مراد پرې حاصلېږي
دېر د مینې دې سودا ته مې زړه کېږي
***

حاجیانو په خبر راغلئ

## حاجیانو په خبر راغلی

حاجیانو په خبر راغلی مدینه مو ولیده
دَ پاك رسول الله ښکلي روضه مو ولیده

بې شمیره مخلوقات ني سلامی له وو ورغلي
په خپله دَ زم زم ښکلي چینه مو ولیده

محبوب چې دَ یارانو سره کړي پکښې ارام
چاپېره دَ روضې ښکلي جنګله مو ولیده

قطار کښې دَ باب السلام روان وي صاحبانو
قربان دَ عائشې بي بي حجره مو ولیده

انوار او رحمتونه دَ الله پرې راورېږي
دَ شین ګنبد روښانه نظاره مو ولیده

ارمان دَ توبه ګار دے چې جانان مې دے لیدلے
زما چې دي ارمان هغه کوڅه مو ولیده

***

## رباعي

## رباعي

مدیني منورې ته مې سلام دے
دَ حضور ښکلې روضې ته مې سلام دے

جبرائیل چې په ادب پکښې راتللو
قدرمنې دروازې ته مې سلام دے

قدمونه چې نبي عرش برین ښکل کړهٔ
هغه لوړې مرتبې ته مې سلام دے

ملاقات چې دَ الله او دَ محبوب وهٔ
دَ معراج سپېځلې شپې ته مې سلام دے

په راتلو دې همه وارہ تیرې لاړې
سنا دَ نور هرې جلوې ته مې سلام دے

توبه ګار چې دَ محبوب نعتونه لیکي
دَ دې نعت هرې فقرې ته مې سلام دے

***

## دَ مور پلار دُعا

## دمور پلار دُعا

په دنیا کښې حو د مور او پلار دعا خوند کوي
دَ حکمونو د الله نې پس رضا خوند کوي

سر کړه ټيټ به عاجزۍ سې ادبې مهٔ کوه
کړه خبرې نرمې نرمې هيڅ تيزي مهٔ کوه
دروغ مهٔ وايه په ژبه تل رشتيا خوند کوي
د حکمونو د الله نې پس رضا خوند کوي

شپه او ورځ کړه خدمتونه خدمتګار جوړ شه
دَ دوي هر حکم منلو ته تيار جوړ شه
بيا دنيا کښې کهٔ اوسيږې نو دنيا خوند کوي
د حکمونو دَ الله نې پس رضا خوند کوي

ستا به سر ژړګيه مور ډير تکليفونه کړل
دا به وينه. تا به ټوله شپه خوبونه کړل

سر په پښو کښې ورته کيږده بس هم دا خوند کوي
د حکمونو دَ الله نې پس رضا خوند کوي

په دعا دَ مور رنګ شوي یم کمال ته به رسم
چې به زړهٔ کښې مې څهٔ راشي هغه خیال ته به رسم
توبه ګاره توکل تل په الله خوند کوي
دَ حکمونو د الله نې پس رضا خوند کوي

***

## نعت شریف

ګل مې مدینه کښې دے او زړهٔ مې به عجم کښې
تل یم به دې غم کښې چې کله به ورځمه

کله به نصیب مې شي چې وتې کرم دېدار
خدایه چې روان شم دَ حجاز په هغه لار
تېرې چې به مېنه نې کرم شپې ورځې به حرم کښې
تل یم په دې غم کښې چې کله به ورځمه

ودرېږم چې رو برو روضې ته دَ جانان
ډېر زړهٔ دَ مودو لرم په زړهٔ باندې ارمان
وبه کړ به ما څادر راخور دَ خپل کرم کړې

تل به به دي غم كښې چې كله به ورخمه

ما سلامي كړي ذ احمد نبی سرورﷺ وے
خواكښې ذصديقؓ او ورسره هم ذعمرؓ وے

الصلوة والسلام وئيلې مې هر دم كښې
تل به به دي غم كښې چې كله به ورخمه

خوشـ كړي توبه ګارا چې صفت كړي ذ جانان
رحم دي به نا وكړي خاوند غني سبحان
ليكه ئي نعتونه چې دي زور وي به قلم كښې
تل يم به دي غم كښې چې كله به ورخمه

***

## نعت شريف

## نعت شریف

خدایه څومره ښار دَ مکې ښکلې
ښکلې دے بازار دَ مدینې ښکلې

هلته طوافونه له کعبې کېږي
دلته سلامونه دَ روضې ښکلې

هلته دَ خلیل دَ ښو خاپونه دي
دلته دَ اصحابو مقبرې ښکلې

هلته په کعبه غلاف ځلېږي تور
دلته د جانان دي شنې پردې ښکلې

هلته دَ زم زم یخې چینې شته دے
دلته دَ کجورو باغیچې ښکلې

هلته دَ هاجرې بي بي یادونه دي
دلته دہ حجره د عائشې ښکلې

هلته توبه ګاره دَ لبیک چغې
دلته دَ صلوة سلام نعرې ښکلې

***

## دعا

## دُعا

پاکه ربه عقیده مو په قران کړې
طریقه مو ذ نبی اخر زمان ﷺ کړې

د بدعت رسم رواج نه مونږه بچ کړه
په صحیح لار د اسلام مونږه روان کړې

غم ښادي مو په دستور ذ شریعت کړه
ذ شیطان ذ وسوسو مو په امان کړې

توبې ستا در کښې وباسم توبه ګار یم
لویه خدایه ته کامل زمونږ ایمان کړې

***

## نعت شریف

ستا په لارو او کوڅو چې ګرځېدم خوشحالېدم زهٔ
ستا په دشتو او مېرو چې تېرېدم خوشحالېدم زهٔ

ما وې دا هغه وطن دے چې ارمان زړهٔ کښې زما وهٔ
دا هغه ښکلے مسکن دے چې مسکن مې د اقا وهٔ
هغه لارو کښې جانانه تلم راتلم خوشحالېدم زهٔ
ستا په دشتو او مېرو چې تېرېدم خوشحالېدم زهٔ

تور تور غرونه وو جانانه ستا د لارې په اوږدو کښې
کهٔ هر څو خړ او سپېرهٔ وو خو مزه ئې وه کتو کښې
کله کله به دې لارکښې ودرېدم خوشحالېدم زهٔ
ستا په دشتو او مېرو چې تېرېدم خوشحالېدم زهٔ

غارِ ثور ته چې لاړم عجيبه ښکلے منظر وهٔ
مخکښې مخکښې زما خیال نه د هجرت د نبي سفر وهٔ

داسې زهٔ غارِ حرا ته ورختم خوشحالېدم زهٔ
ستا په دشتو او مېرو چې تېرېدم خوشحالېدم زهٔ

دَ کعبې دیدار مې وکړهٔ هم اسود ته سلامونه
بیا مقامِ ابراهیم سره ومې کړل مونځونه
د الله دَ ښکلي کور نه تاوېدم خوشحالېدم زهٔ
ستا په دشتو او صېرو چې تېرېدم خوشحالېدم زهٔ

په دې سترګو ګناه ګارو مالېدلے ستا حرم دے
نور زما توبه ګار شۀ وو خو بس ستا نظر کرم دے
دَ یو ښار نه چې بل ښار ته رسېدم خوشحالېدم زهٔ
ستا په دشتو او صېرو چې تېرېدم خوشحالېدم زهٔ

***

## نعت شریف

بیا دَ مدینې لاري کوڅې راته راپادي شوي
خدایه دَ محبوب دَ کلي شپې راته رایادي شوي

شکر شکر چې راپاد شهٔ دَ جانان کلے
ګران چې په محبوب علیه السلام وهٔ لدردان کلے
خوا و شا ته ئې جوختې محلې راته رایادي شوي
خدایه دَ محبوب دَ کلي شپې راته رایادي شوي

لوے لوے قطارونه دَ عشاقو راروان به ور
تل به ئې دَ مینې سلامونه په جانان به ور
هغه دَ صلوٰة سلام نعري راته رایادي شوي
خدایه دَ محبوب دَ کلي شپې راته رایادي شوي

دا مدینه ښار دے په هجرت ورله جانان راغے
ډیر دَ مکې ښار نه په افسوس او په ارمان راغے

سختې د هجرت د شپې قيصې راته رايادې شوې
خدايه د محبوب دَ کلي شپې راته رايادې شوې

ما په خپلو سترګو وليدهٔ هغه ميدان ښکلے
چرته شهيدان چې وو اويا اصحابان ښکلے
څکه دُ اصحابو مرتبې راته رايادې شوې
خدايه دُ محبوب دُ کلي شپې راته رايادې شوې

بيا بيا نې زړهٔ کېږي توبه ګاره چې څوک تلي دي
هغه دُ محبوب ښکلي ځنګلي نې چې ليدلي دي
ناو نې دُ روضې نه شنې پردې راته رايادې شوې
خدايه دُ محبوب دُ کلي شپې راته رايادې شوې

***

هم دغه مې ارمان وه چې پوره کړلو ﷻ
روضه مې ولیده د محمد رسول الله

روضه مې ولیدله د نبیانو د سردار
ورتلې د عاشقانو ولې ولې په قطار
دا فضل په ما وکړلو پاك رب غني مولا
روضه مې ولیده د محمد رسول اللهﷺ

مسجد نبوی ﷺ مې ولیدهٔ په مدینه کښې
بیا کښیناستمه زهٔ د اصحابو چوتره کښې
مشغول ومه په ذکر لا اله الا الله
روضه مې ولیده د محمد رسول الله

بیا لاړمه نژدې د اصحابو مقبرې ته
دا مخامخ وه دېخوا د بقیع دې دروازې ته

بنهٔ دېر بکښې حصار شوم هلته ومې کړه دعا
روضه مې ولیده د محمد رسول الله

هم کښناستم ممبر سره په رياض الجنت کښې
څه خوند وو عجيبه د دلته ځائے په عبادت کښې
محراب ته به کتل مې وه هم دامې مشغولا
روضه مې ولیده د محمد رسول الله

لېـو د مدينې مې زړهٔ قرار کړهٔ توبه ګاره
ونيل مې چې غوبښتولو مې دا ځائے له کردګاره
بس دا زما سودا وه نهٔ لرم بله سودا
روضه مې ولیده د محمد رسول الله

***

# نعت شریف

ښار دے د مکې ښکلي
دلته طوافونه دي
ښار دَ مدینې ښکلي
دلته سلامونه دي

دلته دَ کعبې دیدار
دلته ملتزم شته دے
دلته ده صفا مروه
دلته کښې زمزم شته دے
دا دَ برکت کور دے
دلته عزتونه دي

دلته دَ محبوب روضه
دلته صحابان اوسي
دلته دے صدیق عمر رضی الله عنهما
خوا کښې دَ جانان اوسي
دلته دَ باب السلام
لوے لوے قطارونه دي

دلته دَ أحد میدان
دلته شهیدان شته دے

دلته دَ حمزه رضي الله عنه په شان
ډیر باندي قربان شته دے
دا دي په جنګلو دته
جوړ شوي مزارونه دي

دلته دَ جنت خاتون
اوسي فاطمه بي بي رضي الله عنها
دلته أم المؤمنين
اوسي عائشه بي بي رضي الله عنها
دلته جنت البقیع
دي کښي ښې قبرونه دي

دلته توبه ګار راغي
ډېر په زړه بیمار راغي
اوس ئې زړهٔ قرار شولو
کلي ته دَ یار راغي
پروت په مدینه کښي دے
ښه ښکلې وختونه دي

***

# دَ مدینې مازیګر

وریږي مې زړهٔ نرې نرې خوږېږي
مازیګر دَ مدینې راته یادېږي

ما ته یاد شهٔ مازیګر دَ یار دَ کلي
ګرځېدل به ښکښې خلق ښکلي ښکلي
دا زړګې مې هغه وخت ښې ژړېږي
مازیګر دَ مدینې راته یادېږي

مازیګر ښکښې عجیبه غوندې مزه وي
دا هوا دَ مدینې خوږه خوږه وي
عاشقان ښکښې دَ یو بل نه خارېږي
مازیګر دَ مدینې راته یادېږي

د یار در کښې چې اوسېږي بختور دي
خورم قسم په نصیبونو زورور دي

شپه او ورځ پرې رحمتونه راورېږي
مازيګر دَ مدينې رانه يادېږي

چې به زړهٔ کښې ئې ارزو دَ مدينې وي
چې ارمان دَ چا ليدل دَ شنې روضې وي
ان شاء الله دَ جانان خوا ته به رسېږي
مازيګر دَ مدينې رانه يادېږي

دَ جانان دَ کوڅو سېل رانه زړهٔ غواړي
نهٔ صبرېږي هر ساعتې رانه ژاړي
شين ګنبد مې سترګو سترګو کښې ګرځېږي
مازيګر دَ مدينې رانه يادېږي

توبه ګاره څوک چې لاړ شي مدينې ته
دَ محبوب عليه السلام بنګلې روضې ته
واپس راشي خو زړهٔ ئې هلته کښې اوسېږي
مازيګر دَ مدينې رانه يادېږي

***

## نعت شریف

مدینې ستا چې شان په ټول جهان اوچت دے
دا مې د محبوب په برکت دے

الله په تا کړې احسان دے
تا کښې مبلغه د لا مکان دے
دنیا کښې ډیر درکړې ستا له رب عزت دے
دا مې د محبوب په برکت دے

تا کښې مسجد د هغه مسکن دے
تا کښې [illegible] دے
د هر چا څکه ډیره ډیر محبت دے
دا مې د محبوب په برکت دے

بخت دې د هر چا روڼ دے
تا له جانان کړې سفر دے
دا د الله د لورې تا باندې رحمت دے
دا مې د محبوب په برکت دے

بل دي په عجم کښې اصحابان دي
دَ پاك نبي دَ باغ ګلان دي
خومره ښائسته لعې خوش نصيبه دي لسمت دے
دا مې دَ محبوب په برکت دے

فخر پرې کرمه توبه ګار
لېدلے ما مدينه ښار
وبر مدينه کښې مې دَ مور کړې خدمت دے
دا مې دَ محبوب په برکت دے

***

## رباعي

وهٔ دَ مودو نه يو ارمان مې سر ته ورسېدهٔ
چې مې سلام دَ محبت دلبر ته ورسېدهٔ

هغه ژوند تېر شهٔ چې وه لويه لويه شپه دَ هجران
اوس مې شوګير دَ نورو شپو سحر ته ورسېدهٔ

اوس به مې جوړ شي کهٔ هر څومره زړهٔ زخمي زخمي وهٔ
چې نې علاج دَ رغېدو پرهر ته ورسېدهٔ

رياض الجنت کښې مې دَ پاک نبی محراب وليدهٔ
داسې مې تلو ورو ورو نظر ممبر ته ورسېدهٔ

اوس به مو دلته کړي سېراب بيا په ورځ دَ محشر
چې محمد رسول الله کوثر ته ورسېدهٔ

کړي دي مزې اوس توبه ګار دَ جانان کلې نې دے
چې نې غربتهٔ دَ خدايه هغه در ته ورسېدهٔ

***

کاش چي مدينه وي او بس زهٔ وے
اوسېدل مي وے ورو ورو ژړېدل مي وي
خوا کښې د جانان
کاش چي مدينه منوره زما وطن وے
بنګلے دَ محبوب کلے زما غريب مسکن وے
ډېر دَ مديني په پاکه خاوره ګرځېدل مي وے

يا چي په مسجدِ نبوی کښې خدمتګار وے
وه جارو په لاس کښې زما دغه مي روزګار وے
دغه مشغولا کښې بس سبا بېګا کېدل مي وے

يا مي دَ ستونِ عاشقي سره مقام وے
رب ته مي سوالونه کول دا زما کلام وے
ناست رياض الجنت کښې اذانونه اورېدل مي وے

بيا بيا چي راتلمه په باب السلام جانان ته
پرې مي وه روضې ته چي ونيلي مي رضوان ته
ډېر ډېر په درود سلام ايمان تازه کېدل مي وے

وے چې راسره صحب مبارك دَ پير سباق
هم مې شيخ ادريس صحب وے ملګرے دَ اوتاق
شۀ کۀ مې نصيب چې بس دَ دوي خدمت کول مې وے

بس چې دَ جانان دَ حرم لوړې منارې وې
هم دَ شين ګنبد نې زړۀ راښونکې نظارې وې
وم چې توبه ګار او په خوږو سترګو کتل مې وے
***

## نعت شریف

هیڅ نهٔ وو راسره لکه ملنګ دلته کښې راغلم
دا شوم د خپلې مور په دعا رنګ دلته کښې راغلم

منم چې دلته زهٔ په دعا رارسولے
په فضل دَ الله یمه کعبې ته ودربدلے
لا ومه دَ نصیب سره په جنګ دلته کښې راغلم
دا شوم دخپلې مور په دعارنګ دلته کښې راغلم

الحمدالله راغلم دَ محبوب ښکلې روضې ته
صلوٰة سلام مې ووې چې نې ودربدم جنګلې ته
یاران نې ورسره دې خنګ به خنګ دلته کښې راغلم
دا شوم د خپلې مور په دعا رنګ دلته کښې راغلم

ښائست دے دَ مکې هم پرې روښانه مدینه ده
ده شمع نورانې رڼا نې هر ځاے کښې خوره ده

حاضر شوم ورته زهٔ لکه پتنګ دلته کښې راغلم
دا شوم د خپلې مور په دعا رنګ دلته کښې راغلم

په زړونو بنهٔ عالم دے پاك خالق پروردګار
دا ځکه نې راوستے یم وطن ته دَ سردار
نور خپل وطن کښې زړهٔ مې وهٔ راتنګ دلته کښې راغلم
دا شوم د خپلې مور په دعا رنګ دلته کښې راغلم

پوره مې شهٔ ارمان زهٔ نوبه ګار شکر ګزار یم
راغلے پاك وطن ته دَ نبی خیرالابرار یم
شهٔ لرې پرې زما دَ زړهٔ نه زنګ دلته کښې راغلم
دا شوم د خپلې مور په دعا رنګ دلته کښې راغلم

***

## رباعي

چې هاې سوران دې په سلګو بدل شي
هلته خفګان په خوشحالو بدل شي

هر چا چې مينه په خان فرض کړله
خوب دَ هغوي په شوګيرو بدل شي

چې کوم ساعت دَ جانان خوا سره وي
داسې ساعت دي په کلو بدل شي

منع کوي چې مې دَ يار له دره
داسې ځېلوان دي په پردو بدل شي

چې لاړ شي حج له او مدينې ته نه ځي
دغسې روغ دي په رندو بدل شي

هلته به خوند دَ مینې څنګه نهٔ وي
چې دي خیالونه په لیدو بدل شي

چې څوک شي رنګ دَ خدای، رسول په مینه
سترے ژوندون ئې په مزو بدل شي

ای توبه ګاره داسې مینه وکړه
چې دَ زړهٔ درد دې په نغمو بدل شي
***

# نعت شریف

زوند مې خوښ دے مدینه کښې کهٔ زما زړهٔ ته څوک ګوري
دٔ جانان لاره کوڅه کښې کهٔ زما زړهٔ ته څوک ګوري

ما دې پرېږدي چې يم دلته چې ني ښهٔ په ديدن موړ شم
دېر ورګرزم به ځنګله کښې کهٔ زما زړهٔ ته څوک ګوري

چې دٔ مينې به خبرات ني دٔ زړګي کچکول ښهٔ ډک کړم
ورته کښېنم به ټم دمه کښې کهٔ زما زړهٔ ته څوک ګوري

کهٔ دٔ مينې انتها ده خو بس دا ده بل ځاے نشته
دٔ محبوب ښکلي روضه کښې کهٔ زما زړهٔ ته څوک ګوري

کهٔ مې واک او اختيار خپل شي يو قدم به تري وانخلم
داسې شوق لرم سينه کښې کهٔ زما زړهٔ ته څوک ګوري

چې مې روح دٔ تن نه لاړ شي توبه ګار دلته دفن کړئ
دٔ بقيع دې مقبره کښې کهٔ زما زړهٔ ته څوک ګوري

***

## نعت شریف

ما ولې ترې وباسئ زهٔ اوس دې سره بلد شوم
ایله خو مدینې منورې سره بلد شوم

تر اوسه خو نا اشنا ومه دَ هیڅ نه خبر نهٔ وم
اوس دلته دَ دې لارې او کوڅې سره بلد شوم

اول اول خو ما دَ ورتلو لار نهٔ وه لیدلې
یو څو ورځې مې کېږې چې روضې سره بلد شوم

زهٔ نهٔ ومه خبر به دې چې مینه څهٔ ته وایي
دا اوس اوس زهٔ دَ مینې معاملې سره بلد شوم

دا بیار دَ بېکلاګانو دے زهٔ دلته کښې خوشحال یم
ما پرېږدئ زهٔ نن اوس دَ ورځې شپې سره بلد شوم

عزت پکښې عزت او محبت نن لا ثاني دے
قسم دے زهٔ دَ داسې اشنائي سره بلد شوم

اوس بهٔ پوهه شوم چې دا ریاض الجنت دے تو به ګاره
هم زهٔ دَ اصحابو دَ صفې سره بلد شوم

***

## رباعی

کهٔ دٔ زړهٔ نه تپوس کوم وایي مدینه
کهٔ مې شونډې بېرته کوم وایي مدینه

عادت شوې په دیدار دٔ مدینې دي
چې چشمان پورته کوم وایي مدینه

هر یو رګ مې مدینه مدینه وایي
ساه کهٔ ښکته بره کوم وایي مدینه

په طرف دٔ جانان درومې ایسار نهٔ دے
چې قدم اوچتوم وایي مدینه

کهٔ خوشحاله دې ارمان دٔ مدینې کړي
کهٔ خفه خوشحالوم وایي مدینه

دل دماغ مې عاشقان دٔ مدینې شول
کهٔ مې ژبه خوروه وایي مدینه

زړهٔ مې داسې پرې مئین دې توبه ګاره
کهٔ هر څو نې صبروم وایي مدینه

***

## نعت شریف

دا هغه ښار دے چې هر څوك يې مينېږي
بيا زړهٔ ئې نه صبرېږي چې چا ليدلے دے

دا هغه ښار دے مزېدار
ښکلے وطن دے دَ سردار
هر وخت چې وي بهار بهار
ورته عشاق دَ هر يو لورې راځليږي
بيا زړهٔ ئې نه صبرېږي چې چا ليدلے دے

دا مدينه منوره ده
دَ پاك رسول پکښې روضه ده
دَ رحمتونو خزانه ده
هم خاندان مې دَ محبوب دلته اوسيږي
بيا زړهٔ ئې نه صبرېږي چې چا ليدلے دے

دي کښې عزت او برکت دے
دي کښې دَ ټول عالم رحمت دے
دي کښې بې شانه محبت دے
دلته کښې هر سړے دَ يو بل نه خارېږي
بيا زړهٔ ئې نه صبرېږي چې چا ليدلے دے

دہر نالیدلي عاشقان دي
په لمبو سوي دَ هجران دي
دَ لیدو دہر ني په ارمان دي

په انتظار انتظار عمر ني تیرېږي
بیا زړهٔ ني نه صبرېږي چې چا لیدلے دے

جنت به ښکلے وي ربنـیا ده
خو دا یو خانله مشغولا ده
خکه خو ګرانه په هر چا ده

سحر ماښام پرې رحمتونه راورېږي
بیا زړهٔ ني نه صبرېږي چې چا لیدلے دے

ورنه ولاړ یم توبه ګار
دَ ښنو پردو کوم دیدار
دي کښي اوسېږي مې دلدار

دہر عالمونه دَ روضې خوا کښي ژړېږي
بیا زړهٔ ني نه صبرېږي چې چا لیدلے دے

***

## نعت شریف

په خیال کښې هره ورځ ورځمه مدینې ته
ودرېږمه روضې ته دَ پاك نبي سردار

لاړ شم خیالونو کښې حرم ته
جومات دَ پاك نبی اکرم ته
کوم سلامونه محترم ته
په عاجزۍ يمه ولاړ ښکلې جنګلې ته
ودرېږمه روضې ته دَ پاك نبي سردار

کله رياض الجنت کښې
ګرځمه ډېر په محبت کښې
دلته ډېر خوند وي عبادت کښې
کله ورخېژم دَ اصحابو چبوترې ته
ودرېږمه روضې ته دَ پاك نبي سردار

صديق عمر دواړه ياران دي
دا په رېښتوني عاشقان دي

خوا کنبې پراته دَ لادردان دي
کوم سلام دَ دوي دَ صدق ياراني ته
ودرېږمه روضې ته دَ پاک نبي سردار

خمه قيا ته په چکر زهٔ
هم قبلتين ته برابر زهٔ
دَ أحد خوا ته مازيگر زهٔ
واپس نري راشم دَ اصحابو مقبري ته
ودرېږمه روضې ته دَ پاک نبي سردار

په خيال کنبې لارشم توبه گار
دَ شين گنبد وکرم ديدار
زړګی بري بنهٔ کرمه قرار
ورو ورو نژدې شم دَ سلام دي دروازې ته
ودرېږمه روضې ته دَ پاک نبي سردار

***

## نعت شریف

چې یادوو مې دَ مودو ما هغه کور ولیدهٔ
تور غلاف مې تور ولیدهٔ دَ بېت الله

کله چې ودرېږم کعبې ته
حېران شوم خپلې نصیب ته
اثر دعا کښې مې ریښتیا دَ خپلې مور ولیدهٔ
تور غلاف مې تور ولیدهٔ دَ بېت الله

بیا په طواف کښې چې روان سومه
دَ پاک الله په لوے احسان شومه
حجراسود سره مې ډېر دَ خلقو زور ولیدهٔ
تور غلاف مې تور ولیدهٔ دَ بېت الله

دَ حرم لوړې مناري وې
دَ نور جلوې پرې راخورې وې
لیکلې نوم مې دَ الله په هر یو لور ولیدهٔ
تور غلاف مې تور ولیدهٔ دَ بېت الله

ذَ کعبې خوا سره خطیم وهٔ
دي خوا مقام ابراهیم وهٔ
ما ذَ زمزم اوبو کښي ښکلے کما ل نور ولیدهٔ
تور غلاف مي تور ولیدهٔ ذَ بیت الله

ولاړ کعبې ته توبه ګار وم
ذَ پاك الله شکر ګزار وم
ایله مي دا چي په والله ذَ زړهٔ تکور ولیدهٔ
تور غلاف مي تور ولیدهٔ ذَ بیت الله

***

## نعت شریف

هېر رانه نهٔ دي په ذرهٔ هر څهٔ مي لېکلي دي
ما چي مدينه کښي څهٔ لېدلي دي

هلته مي وليدهٔ يو ښار
دَ مديني ښکلي بازار

اصحابان دغه کوڅو کښي گرځېدلي دي
ما چي مدينه کښي څهٔ لېدلي دي

ښکلې جومات ني مزېدار وهٔ
هم دَ محبوب پکښي مزار وهٔ

هغه شينکي گنبد ته ډېر ډېر مي کتلي دي
ما چي مدينه کښي څهٔ لېدلي دي

تلې وم مسجد قبا ته
هم قبلتين سره خوا شا ته

هم مي ملگري راسره خندق ته تلي دي
ما چي مدينه کښي څهٔ ليدلي دي

وارهٔ وارهٔ وو جوماتونه
د اصحابو تاريخونه
دا راته تول خپل معلم صاحب ښودلي دي
ما چې مدينه کښې څهٔ ليدلي دي

باغ دٔ کجورو دٔ سلمان هلته
ښکلې مزره وه دٔ عثمان هلته
داسې مې دېر باغونه مخې ته راغلي دي
ما چې مدينه کښې څهٔ ليدلي دي

اُحد سره خوا کښې ميدان وهٔ
دٔ شهيدانو قبرستان وهٔ
دغه ميدان کښې هغه کاڼي ښکلي ښکلي دي
ما چې مدينه کښې څهٔ ليدلي دي

ورمخامخ چې توبه گار شوم
دٔ سلامونو په قطار شوم
درود سلام مې دېر روضې سره وئيلي دي
ما چې مدينه کښې څهٔ ليدلي دي
***

## نعت شریف

راغے بهار راغے، په مکه ښار راغے
دٙ عبدالله په کور کښې نبي سردار راغے

لکه دٙ نمر ښکاره شهٔ
خیرالبشر ښکاره شهٔ
تیرې دٙ کفر لاړې
رڼا سحر ښکاره شهٔ
دٙ امیني غېږې ته دوست دٙ غفار راغے
دٙ عبدالله په کور کښې نبي سردار راغے

دٙ مرحبا نعرې شوې
په هره خوا نعرې شوې
زیرې جبرئیل ورکول
په منتهی نعرې شوې
دٙ انبیاو امام ښکلے تاجدار راغے
دٙ عبدالله په کور کښې نبي سردار راغے

دٙ برکت غېږه وه
دٙ محبت غېږه وه

دَ حليمي ابي غيږ
دَ لوړے قسمت غېږه وه
بخت شۀ بيدار دَ هغې ورله قرار راغلے
دَ عبدالله په کور کښې نبي سردار راغلے

شۀ قافله کښې روان
بنۀ په مزه کښې روان
عمر ئې دولس کاله
داسې موده کښې روان
راهب را وتلو گل په دې لار راغلے
دَ عبدالله په کور کښې نبي سردار راغلے

له بيت الله شۀ روان
دوست دَ مولا شۀ روان
مسجد اقصیٰ ته لاړۀ
په هغۀ خوا شۀ روان
شۀ دَ نبيانو امام خيرالابرار راغلے
دَ عبدالله په کور کښې نبي سردار راغلے

بره اسمان ته تلے
دے لامکان ته تلے
چې دَ رب عرش يادېږي

هغه مکان ته تلے
کړي خوشحالي ملائیک ښکلے رخسار راغے
دَ عبدالله په کور کښې نبي سردار راغے

دا دَ مکې جانان دے
دَ مدینې جانان دے
په مدینه کښې اوسي
دَ شتي روضې جانان دے
مدینه شوه خوشبویه ورله ګلزار راغے
دَ عبدالله په کور کښې نبي سردار راغے

زهٔ توبه ګار غوارمه
په مخ دَ یار غوارمه
عفوه دَ خپلې ګناه
دَ رب غفار غوارمه
کړي شفاعت به زمونږ زمونږ غمخوار راغے
دَ عبدالله په کور کښې نبي سردار راغے
***

رباعي

په ادب او احترام خه ښکلې در دے
دا حرم دَ هاشمی نبی سروز دے

دغه مخامخ چې ښکاري ورته ګوره
چې جبرائيل به پرې راتلو دا هغه ور دے

عبادت پکښې کوه رياض الجنت دے
دا محراب مې دَ محبوب دا ني ممبر دے

شنې پردې چې په جنګلو دته ښکاري
په پردو دته مسکن مې دَ دلبر دے

وزيران ني دَ دنيا او اخرت دي
ورسره څيې کښې صديق او بل عمر دے

دَ محبوب دَ والضحیٰ مخ نه قربان شم
اسمان زمکه او ټول جهان پرې منور دے

دا کور کلې د محبوب دے ورته ګوره
دي پسې دَ هر عاشق زړګے پرهر دے

قدم ډیر په عاجزۍ ږده توبه ګاره
ګرخبدلے دي کوڅو کښې پیغمبر دے

***

تمت بالخیر

